


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډالۍ......**

*دا ناول دې ګران ملګري محمد داود رحماني او خور زينب علي ته او ټولو مينوالو ته ډالۍ وي چې هر وخت يې زما ملتيا کړيده او زه يې تشويق کړی يم.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کتاب په اړه

کتاب.................................تیر یادونه (نارنج کلاء ۲)

لیکوال........................................نیک محمد بارک

کمپوز او ډیزاین................................. نیک محمد بارک

کره کتنه او نظر ................................احمد مظهر درانی

کال........................................۲۰۲۲ع

د لیکوال سره تماسونه........................... 

موبایل او واټسف:................................. 0702110371

آیمل پته:........................naikbarak786@gmail.com

**یادونه:** د کاپي رایت د قانون مطابق هیڅوک دا حق نلري چي د لیکوال د اجازې پرته د هغه کتاب په شخصي توګه استفاده، چاپ او په خپل نوم خپور کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پر تير يادونه ناول نظر

هره ژبه د هنري، ادبي، څېړنيزو، علمي ليکنو او ويناوو له مخي پر دوو (نظمي او نثري) برخو ويشل سوې ده .

ناول د شکل يا فورم له مخي د نثري اثارو له ډلي څخه دی چي د لاتينی ژبي د (نووس) د کليمې څخه اخستل سوی دئ په لغت کي نوي، تازه او عجب ته وايي او په اصطلاح کی دهغو انساني جذباتو او احساساتو بيان کوي چی په اظهار يې د نورو انسانانو همدردي پيداسي، په ناول کې د انساني ژوند لوړې ژورې، موجودې وي، د انسان له پيدايښت څخه تر پايښت پورې چې کوم واقعات پېښېږي د ټولو تصويرونه د خپل فن، سکالو (موضوع) گرځوي، د ناول دنيا د حقيقي دنيا په شان د زمان او مکان او په نړۍ کې دپېښو د رښتينوالي پر بنا ولاړه ده .

حاضر منثوري اثر (تېر يادونه) د گران ملگري او ورور غوندي دوست ښاغلي نيک محمد (بارک) شپږم ناول دئ. تاسو که چيري د ښاغلي بارک صاحب دا ناول او تېرو ناولونه ولولئ دا به له ورايه درک کړئ چي ددې ناول ليکنه نسبت تيرو ناولونو ته د جذابيت، د ليکني د اصولو، فصاحت و بلاغت او ورته نورو ادبي ښکلاوو له اړخه درنه ده. ناول د لنډي کيسې برعکس هم اوږد وي او هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات کرکټران لري خو ښه ناول هغه دی چې پر لوستونکو و نه غمېږي او لوستونکی له ځانه سره د پېښې صحنې ته يوسي. بارک صاحب دا اصول ډېر ښه مراعت کړي دي او له زياتو سختو، پېچلو او جنجالي لغاتونو يې ډډه کړې.

د کتاب له منځه يو نمونه يې:

•سردار خان وويل: ددي مکتب او شاوخوا مځکه يي د دولت وه چي بيا ما ځني رانيول اوس ددي مکتب مځکه زما ملکيت دی دا مځکه چي کله د دولت وه هغه وخت يي اشرف خان ته د مکتب جوړولو اجازه ورکړي وه اشرف خان دا مځکه د دولت څخه نه وه رانيولي اوس چي کله ما رانيول نو زه ددي مکتب په مځکه چي هر څه کوم هغه زما کار دی خو بايد...

که چيري د کتاب له هره کونجه يوه بيلگه را واخلو او وې لولو دا احساس به راته پيدا سي چي زه (لوستونکی) بايد مخته ولاړ سم او د موضوع تر اخيره ځان خبر کړم. که چيري د ناول له منځه يو صفحه هم ووايو دې ته مو اړ باسي او تشويقوي مو چي بايد ناول له پيله شروع کړم او يا به يې لوستلو ته همداسي ادامه ورکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا حالت خپله په ځان کي د ناول جذابیت او ښایسته والی ښکاره کوي .

په پای کي یو ځل بیا ښاغلي بارک صاحب ته ددې کتاب (ناول) مبارکي وایم او د خدای (ج) له درباره ورته د نورو ادبي و فرهنګي هڅو د دوام او توفیق غوښتونکی یم.

ادب او احترام

احمد مظهر درانی

نیټه ۷/فبروري /۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال خبري

د پاک او لایزال خدای جل جلاله په ستر نامه

د الله جل جلاله ډیر شکر ادا کوم چي د خپلی مورنۍ ژبې د خدمت یو بل توفیق یي هم راکی او ګرانو مینوالو ته مي یو بله ناچیزه تحفه وړاندي کړل،

تیر یادونه ناول چي د نارنج کلاء ناول دوهمه برخه ده د مینوالو د بیا بیا غوښتنو پر اساس د څو میاشتو په جریا کي پوره او سرته ورسول که څه هم زیات مصروفیات وه خو د مینوالو غوښتنه مي پر مځکه نسوای غورځولای خدای دي وکي چي دا زموږ تکلیفونه بي ځایه نسي ولاړ او دا ناول د مینوالو د خوښي وړ وګرځي او د ټولو مینوالو او ادیبانو څخه هیله کوم چي په ناول کي زما اشتباهات راته په ګوته کي تر څو زه یي په راتلونکو ناولونو کي اصلاح کم شاید زما ناولونه ډیر اشتباهات ولري ولي چي یو خو بنده یم او بنده بي خطا نه وي او بل دا چي زه د ناول او ادبیاتو د قوانینو څخه ناخبر یم ځکه چي زما مسلک ادبیات نه بلکي طبابت دی نو ځکه د ادیبانو همکارۍ ته سخته اړتیا لرم هیله ده چي د اشتباه د اصلاح کولو لپاره راسره په لوړو اړیکو کي چي د کتاب په پیژندګلوی کي مو لیکلي دي راسره په تماس کي سی او د نورو مینوالو څخه هیله کوم چي راته مزاحمت ونکي ځکه چي په انلاین ډول زما د ناولونو او لیکونو مینوال تر دوه سوه پینځوس ۲۵۰۰۰۰ زرو پوري رسیدلي دي چي په دي کي هره ورځ په سلکونه مینوال میسجونه او تلیفونونه کوي چي یو خو یي په کارو کي راته مزاحمت جوړ کړی وي او بل نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم لیکنه ځني کولای سم زه مو هره کله او هر مینوال ته په
خدمت کي یم خو که کم خدمت نه وي نو د بي ځایه تماسو
څخه جداً معذرت غواړم.

په درنښت

نیک محمد بارک

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تیر یادونه

کله کله دي یو څوک ډیر یادیږي خو دومره لیري در څخه تللی وي چي پسي ور رسیدل ناممکینه وي داسي ویل کیږي صفا زړونه یو او بل ته تماس سره لري که هر څومره لیري هم یو سره ته یي یاد که د هغه به حتماً یاد سې مور مي وای په یو خپلوۍ کي ربښتینی او وفاداره اوسه ډیر به مات سي خو یو ورځ به تر ځان ډیر وفاداره او ربښتینی دوست پیدا کي.....د صحرا څو خلک چي یو ځوان او یوه ځوانه ښځه هم ور سره وه په بازار کي یي د نابلدو پځیر شاوخوا کتل او روان وه داسي معلومیده چي په کوم چا پسي گرځي ځواني ښځې خپل ځوان خاوند ته وویل: سحره ډیره ستړې سوم یو څو شیبې به استراحت وکو،

خاوند یي وویل: سمده گرانې زه به بابا ته ووایم،

سحر خپل پلار او نورو کلیوالو ته وویل: بابا روحیله ستړې سویده یو څو شیبې به استراحت وکو،

پلار یي وویل: سمده زویه خو دې لیونۍ ته ما وویل چي زموږ سره مه راځه خو دې ویل یا زه هم د هغه په پیدا کولو کي در سره ځم شاید د نس کوچني یي ستړې کړي وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ټول د یو روغتون مخته کښېنستل خو څو شیبې وروسته د روغتون چوکیدار راغلی او دوی ته یې وویل چې ددې ځایه ولاړ سی!

تر څه خبرو وروسته خبره لفظي جنجال ته ورسیدل او په جنجال سره اخته سول څو شیبې وروسته د روغتون مخته موټر راتیریدی چې دا جنجال ته ودریدی او یو انجلۍ ځني راکښته سوه او چوکیدار ته یې وویل: څه خبره ده؟

چوکیدار وویل: اغلې دا خلک د روغتون مخته ناست وه ما ورته وویل چې ددې ځایه ولاړ سی دوی جنجال راسره کوي،

ځوانې انجلۍ کلیوالو ته وویل: څه خبره ده بابا؟

د سحر پلار وویل: لورې موږ د لیري صحرا څخه د یو چا په لټه راغلي یو دا اُمیدواره ښځه هم راسره ده هغه ستړې سوه نو ځکه موږ د استراحت لپاره دلته کښېنستلو ستاسو چوکیدار ددې پر ځای چې موږ ته یې د اوبو یا بل مناسب ځای ست کړی وای خو دی جنجال لا راسره کوي او ددې ځایه مې ولاړوي،

ځوانې انجلۍ وویل: دده پر ځای زه بخښنه غواړم بابا زه راځی تاسو زما میلمستون ته هلته به ښه په استراحت ستړیا لیري کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سحر پلار وویل: نه لورکې مننه ژوندۍ اوسي،

ځواني انجلۍ وویل: نه نه هغسي نکیږي تاسو به حتماً زموږ میلمانه کیږی!

بیا د روغتون مشري چوکیدار ته وویل: دوی میلمستون ته راوله!

چوکیدار وویل: سمده اغلې،

وروسته ټول کلیوال د روغتون میلمستون ته ولاړل او هلته یې ښه خدمت وسو ځو شیبې وروسته د روغتون مشره هم میلمستون ته راغلل او تر سلام او روغبړ وروسته یي کلیوالو ته ځان ور وپیژندی او ورته ویویل: زما نوم مسکان ده او ددي روغتون مشره یم، بیا یي روحیلې ته وویل: د ځو میاشتو اُمیدواره یي؟

روحیلې وویل: دا مي دریمه میاشت ده،

مسکان وویل: نو ته باید پر ځان ډیر پام وکي داسي کمه مجبوره وه چي ته دلته راغلي او گرځیدلي؟

روحیلې وویل: موږ د یو چا په پیدا کولو پسي راغلي یو،

مسکان وویل: ایا هغه کوم څه در څخه وړي دي که څنگه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



روحیلې وویل: هو هغه زموږ زړونه وړي دي هغه زموږ خوشحالۍ وړي دي ما او سحر هغه سره یو ځای کړو هغه زموږ او زموږ د کلیوالو سره بیله کوم عوض اخیستلو مرسته کول هغه یو ډیر نیک ځوان وو ........... روحیلې د هغه په باره کي ډیري خبري وکړي کله چي د روحیلې خبري خلاصې سوې نو مسکان موسکۍ سوه او بیا یي وویل: علي!

په دې سره د ټولو کلیوالو سترګې د حیرانیه راپورته سوې او بیا ټولو په حیرانۍ وویل: هو هو همدا علي یادوو ایا ته هغه پیژنې؟

مسکان وویل: هو علي نو څوک هیرولای سي،

د سحر پلار د ځایه راولاړ سو او مسکان ته یي وویل: لورې موږ په هغه بي عقل پسي ډیر ګرځیدلې یو درځه ژر مو ور وله چي هغه موږ د ځان سره بوځو!

ددې خبرې په اوریدو د مسکان تر سترګو اوښکې راغلې، د مسکان د اوښکو په لیدو کلیوال او روحیله ډیر حیران سول بیا د سحر پلار وپوښتل: څه وسوه لورې؟

مسکان تر څو شیبو ژړا وروسته د سحر پلار ته وویل: تاسو کښیني بابا درته وایم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي کليوال مسکان ته متوجې سوه نو مسکان د علي په کيسې شروع وکړه او ويويل:د نن څخه څو کلونه مخکې هغه په لومړي ځل ما وليدى په هغه ورځ زه او څو د پوهنتون همصنفيانې مو د رخصتۍ په ورځ د اوبو يو رود ته تللي وو زه او همصنفيانې مو د رود پر شاوخوا گرځيدلو او ساعتيرى مو کوى چي يو دم زما پښه ښوى سوه او لاندې د اوبو يو لوى ډب ته ور ولويدم لکه څنگه چي زما اوبازې نه وه زده نو ځکه اوبو به لاندې کښتې ته کشولم خو ما به د لاسو په حرکت سره کوښښ کوى چي ځان لاندې نه پريږدم زما همصنفيانو نارې او د کمک لپاره چغې وهلې ځکه چي د هغو هم اوبازې نه وه زده چي زه يي د اوبو څخه راکښلې واى، څو شيبې وروسته زه د لاسو او پښو د ډير حرکت څخه ستړې سوم او نور مي د وس او طاقت څخه ووتل چي ځان وژغورم نو ځکه اوبو د ځانه سره ليرې يو خواته کش کړم چي کله مي د ژونده اميد وختى او اوبو لاندې کړم نو په دي وخت کي نابېره يو ځوان په اوبو کي دننه په مخه راغلى او ماته را نيږدي سو زه يي تر لاس ونيولم او د اوبو سرته يي راپورته کړم، لکه څنگه چي د اکسيجن د نشتون او ډيرو د پښو او لاسو د حرکاتو لکبله زه ډيره ستړې سوې وم نو ځکه مي په هغه پسي ځان ټينگ ونيوى او خپل لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي د هغه په غاړه کي ور واچول هغه چي زه دومره وارخطاء او بیریدلې ولیدلم او د هغه په غاړه کي چي مي لاس ور واچوی نو هغه موسکی سو، د هغه موسکا دومره اغیزناکه وه چي زما څخه یې بیره هیره کړه او د هغه په څیهره کي مي خپلې سترګې ښخې کړي، څو شیبې وروسته موږ دواړه د اوبو ژۍ ته را ورسیدلو هغه زه تر اوږې ونیولم او یوې غټې ډبرې ته یې کښینولم او ماته یې وویل: اغلې تاسو ښه یاست؟

ما تر څه ټوخ او ژورې ساه وروسته ورته وویل: هو ښه یم،

وروسته هغه زما د حالت د معلومولو لپاره زما پر تندې لاس ونیوی د هغه لاس چي کله زما پر تندې ولګیدی نو ما ډیر د ارامۍ او سکون احساس وکی او د زړه څخه مي ټوله بیره ووتل بیا هغه راته وویل: پر ځان دي پام کوه،

هغه هیڅ داسي خبره ماته نه ده کړي چي زه دي دا احساس وکم چي هغه پر ما احسان کړیدی، څو شیبې وروسته هغه زما څخه روان سو ما د شا لخوا ورپسې بږغ کړه: ستا نوم څه دی؟

هغه ودریدی تر شا یې راته وکتل او په موسکا یې وویل: علي،

ما ورته وویل: علي مننه چي زه دي وژغورلم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما لا د علي خواته کتل چي په دي وخت کي يو څه ليري زما همصنفيانو ناري کړي چي هلی هلی هغه ده مسکان،

کله چي هغوی را ورسيدي نو راته ويويل: مسکان د خدای شکر دی چي ته مو پيدا کړي،

ما په موسکا د علي خواته اشاره کول چي ووايم چي ده وژغورلم خو چي کله مي د علي خواته وکتل نو ډيره حيرانه سوم ځکه چي هلته هيڅوک نه وه او نه هم ليري څوک معلوميده بيا مي همصنفيانو ته وويل: که هغه ځوان نن نه وای نو زه به مو ژوندۍ نه وای ليدلې،

زما همصنفيانو وويل: کم ځوان مسکان؟

ما ورته وويل: هغه علي نوميدی کله چي مي په اوبو کي د ژونده اميد وختی نو خدای پاک هغه راواستوی او زه يي وژغورلم خو نه پوهيږم دلته ولاړ وو چي يو دم څنگه ورک سو لکه چي ډير يي تلوار وو،

د مسکان همصنفيانو وويل: د خدای شکر دی چي ته وژغورل سوې که نه پلار به دي قيامت جوړ کړی وای،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکان وویل: تاسو خو به بابا نه وي خبر کړی؟

د مسکان یوې همصنفۍ په پریشانۍ وویل: موږ ډیرې وارخطاء سوې وو نو ځکه مو ستا پلار خبر کی،

مسکان وویل: اوه زما خدایه بابا به مي بیا ځومره ورټې،

کله چي مسکان او همصنفیانې یي پوهنتون ته را ورسیدي نو د مسکان پلار د وخته د مسکان پوهنتون ته راغلی وو او د مسکان په لیدو ډیر خوشحاله سو او ژر یي په غیږ کي ونیوله او بیا یي پر تندې ښکُل کړه او ویویل: اوه زما خدایه شکر دی چي ته ښه یي،

بیا د مسکان پلار په درد او غوسه د پوهنتون ریس ته وویل: ما نه وه درته ویلي چي زما بیله اجازې مسکان هیڅ ځای مه پریږده؟

د پوهنتون ریس وویل: صاحبه خو مسکان ټینګار کوی سر زورې یي کول ما څه کړي وای بیا رخصتې هم وه ټول محصلین میلو ته ووتل،

د مسکان پلار په غوسه د پوهنتون ریس ته وکتل او بیا یي مسکان ته وویل: هغه هلک څوک وو؟

مسکان وویل: نه پوهیږم بابا ما نه پیژندی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار يي وويل: ايا هغه ددي پوهنتون وو که د بل ځای وو؟

مسکان وويل: يا بابا ددې پوهنتون نه وو او هغه ما هلته په اول وار وليدی،

پلار يي وويل: که دي بيا وليدی ورته ووايه چي زما سره وويني هغه ماته هغه څه راکړي چي زه يي هيڅ بدِل نه لرم خو بيا هم مننه به ترې وکم،

مسکان وويل: سمده بابا،

د مسکان پلار د مسکان څخه رخصت واخيستی او د خپل دفتر پر خوا روان سو کله چي دفتر ته ورسيدی نو مرستيال ته يي وويل: څه نوی خبر؟

مرستيال يي وويل: صاحبه هغه ستاسو د کلي د کوچنيانو مکتب چي تاسو جوړ کړيدی د سردار خان نفرو بيا د مکتب مدير ته اخطار ورکړی وو چي بايد د مکتب څخه خپل شيان ټول کي او مکتب ور خالي کي،

د مسکان پلار اشرف خان وويل: اوف خدايه نه پوهيږم ددي بي عقلانو او ناپوهانو خلکو سره څه وکم حکومت ته مي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع وړاندي کړل او د دوی شکایت مي ورته وکی خو هغو هم هيڅ مرسته نه را سره وکړل فيصله يي د دوی په ګټه کول ځکه چي سردار خان وکيلان را نيولي دي نه مي هلته پر کراره پريږدي او نه مي د تجارت په ميدان کي پر کراره پريږدي دده مقصد مکتب نه دی بلکې هغه زموږ او د دوی د نيکونو دوښمنې پالل دي را سره،

مرستيال يي وويل: صاحبه الله ته يي پريږده الله مو ويني چي ستاسو مقصد د هيواد د بچيانو په پوهه باندي روزل دي الله حتماً زموږ د مرستې لپاره کوم څوک را استوې،

اشرف خان د غم ساه وکښل او ويويل: نه پوهيږم څه وکم صبر مي هم نور تمام سو او په وسه مي هم څه نه ده ور سره پوره سبا به کلي ته ولاړ سو او يو وار بيا به څو مشران سره را ټول کو کيدای سي د هغوی خبره ومني،

سبا ته په کلي کي مجلس جوړ سو او اشرف خان د کلي څو مشران او سپين ږيري خلک راټول کړل تر څو دوی موضوع حل کي، څو شيبې وروسته سردار خان راورسيدی او وکيلان هم ور سره وه مجلس پيل سو د کلي يو مشر وويل: ګوره سردار خانه ته خو پوهيږي چي دا مکتب دی دلته کوچنيان زده کړي کوي تر څو يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



روښانه راتلونکی ولري سبا به په همدي زموږ او ستاسو په کلي کي بيرته موږ ته خدمت کوي د اشرف خان يي کور ودان چي د مکتب يي په خپلو پيسو جوړ کی نو ته يي ولي ناحقه ورانوې؟

سردار خان وويل: ددي مکتب او شاوخوا مځکه يي د دولت وه چي بيا ما ځني رانيول اوس ددي مکتب مځکه زما ملکيت دی دا مځکه چي کله د دولت وه هغه وخت يي اشرف خان ته د مکتب جوړولو اجازه ورکړي وه اشرف خان دا مځکه د دولت څخه نه وه رانيولي اوس چي کله ما رانيول نو زه ددي مکتب په مځکه چي هر څه کوم هغه زما کار دی خو بايد د مکتب مځکه ماته را وسپاري دا زما قانوني حق دی که يي نه منی دا دي د ښار لوی لوی وکيلان زما سره را سره دي دوی به درته ووايي چي دا زما حق دی که نه؟

وروسته وکيلانو هم خبرې وکړي د وکيلانو تر خبرو وروسته مشرانو او اشرف خان هم ډير بحث ور سره وکی خو سردار خان هيڅ نه منل بيا اشرف خان وويل: ګوره سردار خانه ستا دوښمني زما سره ده دا مکتب منځته مه پکښي راوله که دوښمني سرته رسوې نو زما سره يي ورسوه نو دي مکتب څه بد در رسولي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار خان فکر وکی چي هسي نه د مشرانو ومخته کښته راسم نو ځکه يي ورته وويل: اشرف خانه زما او ستا دوښمني جلا موضوع ده او دا جلا موضوع ده اوس دا زما حق دی چي په هر ډول وي دا مځکه زه صفا غواړم که نه نو زه خپله بيلدوزر راولم او په چپه کوم يي،

اشرف خان په دي سره ډير خوابدی سو او د پريشانه يي سر لاندي وځړوی، سردار خان چي کله خبري وکړي نو د مجلس څخه ولاړ سو او روان سو په دي وخت کي يو چا ناره وکړه چي ودريږی!، په دي سره سردار خان او ملګري يي ټول ودريدل او اشرف خان سر راپورته کی او پر خپل ځای ودريدی، بږغ د اشرف خان د شاه له طرفه يو چا وکی نو ځکه ټولو هغې خواته وکتل د خلکو په مينځ کي يو څوک را روان وو کله چي را ورسيدی نو علي وو ټولو حيران حيران ورته کتل ځکه چي د دواړو خواوو دا لومړی ځل وو چي علي يي ليدی کله چي علي مجلس ته را ورسيدی نو سردار خان ورته وويل: څه خبره ده ځوانه چي موږ دي ودرولو؟

علي وويل: تاسو ددي مکتب د ورانولو هيڅ حق نه لری،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار خان و اشرف خان ته وویل: ولې اشرف خانه په لویانو کې دې لکه چې نور وس او طاقت نسته چې دا کوچنیان دې رامخته کړه،

په دې خبره سره د سردار خان ټول ملګري په خندا سول وروسته سردار خان روان سو خو علي بیا ورپسې بږغ کړه: ګوره خانه که ونه ودریدې نو بیا به ټول عمر په زندان کې په ناسته تیر کې،

په دې سره سردار خان ودریدی او ډیر په غوسه سو او علي ته یې وویل: ستا مطلب څه دی؟

علي وویل: څو د کرایې وکیلان دې پیدا کړیدي او دا ساده خلک په خطاباسي،

د سردار خان وکیلان ډیر غوسه سول او بیا یې علي ته وویل: ګوره ځوانه! د خولې سره دې احتیاط کوه موږ د ښار تر ټولو غټ وکیلان یو موږ چې کله کومه قضیه واخلو هغه حتماً ګټو زموږ فیصلې او پریکړې ته قاضي لا څه نسي ویلای،

علي موسکی سو او ویویل: نو خو دې خان به هغه قاضي هم د څو پیسو په  بدلکې رانیولی وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دي سره ټول ډېر حيران سول او اشرف خان او کليوال يي ډېر خوشحاله سول بيا علي وويل: خانه که زه وغواړم تا او دا ستا وکيلان د ټول عمر لپاره زندان ته ليږلای سم خو زه ستا د مشرتوب او عمر احترام کوم اوس درته وايم چي ددي مکتب د ورانولو څخه نور لاس واخله که نه نو بيا دي په قانوني لحاظ ډېر تاواني کوم،

سردار خان وويل: هغه څنگه؟

علي وويل: لومړی دا چي ته هيڅ حق نلري چي يو دولتي مځکه رانيسې دا په هيڅ قانون کي نه دي راغلي چي يو څوک دي دولتي مځکه رانيسې،

د علي ددي خبرې په کولو سره اشرف خان ډېر خوشحاله سو او د ځان سره يي کرار وويل: افرين ځوانه!

بيا علي وويل: دوهم دا چي ته هيڅ حق نلري چي يو تعليمي ځای وران کي که څه هم هغه ستا په شخصي مځکه کي هم جوړ سوی وي دا مکتب خو بيله هغه هم پر دولتي مځکه جوړ سويدی او دريم دا چي يو معلم،مدير او يو عام سړي ته د اخطار ورکولو په جرم زه پر تا دريمه قضيه هم ثبتولای سم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سردار خان وکیلان ډیر حیران سول او بیا یي سردار خان ته په غوږ کي وویل: خان صاحب دی چي څه وایي ټول همداسي دي که دی پر موږ قضیه خلاصه کي نو موږ د ډیر تاوان سره مخ کیدای سو اوس خو یوازې د مکتب موضوع ده که قضیه خلاصه سوه نو د ټولې مځکې څخه لاس پریوله،

سردار خان د وکیلان په خبرو ډیر پریشانه او وارخطاء سو او بیا علي د سردار خان خواته ور روان سو او سردار خان ته یي په غوږ کي پټ وویل: او اخیري خبره ستا د قاچاق او د هیروینو د کاروبار په اړه هم پوره معلومات لرم که وغواړم نو پولیسو ته دي د قاچاق او هیروینو هر ځای او هر څه ور ښیم،

سردار خان دده د قاچاق او د هیروینو د کاروبار په اوریدو سره نور هم ډیر پریشانه او وارخطاء سو او ډیر وبیریدی ځکه چي دده د غیري قانوني کاروبار په باره کي یوازې دده خاص کسان خبر وه، سردار خان علي ته وویل: ته څوک یي او دا زما په غیري قانونې کاروبار ته څنګه خبر یي؟

علي موسکی سو او ویویل: زه یو عام سړی یم چي د خلکو ستونزې او د هغو سره ظلم نسم زغملای ګوره خانه زه ستا سره هیڅ دوښمني

(c) ketabton.com: The Digital Library



نلرم خو ددي خلکو سره ظلم نسم زغملای ته باید اشرف خان ته افرین ووایي چي هغه دومره ستر کار وکی چي په خپلو شخصې پیسو یي د کوچنیانو لپاره مکتب جوړ کی سبا به د یوي مریضۍ د تداوی په خاطر تر لیرې ځایه نه ځی ډاکټر به مو د همدي کلېو یو ځوان وي پخپل کلېو کي به مو تداوې کوي،

اشرف خان او نور کلیوال ډیر حیران وه چي دا ځوان او سردار خان څه سره وایي، سردار خان د علي په خبرو ډیر وبیریدی او بیا یي ظاهرې نرموالی وښودی چي گواکې زه نرم سوم نو ځکه یي علي ته وویل: سمده سمده صحي دی زه نور دا مکتب نه ورانوم دا دي پر همدي ځای وي،

علي او سردار خان د روغبړ او مننې لاسونه سره ورکړل او بیا سردار خان ولاړی، اشرف خان او نور کلیوال د علي خواته ور نیږدي سول او علي ته یي وویل: څه وسول ځوانه؟

علي موسکی سو او بیا یي وویل: نور دا مکتب هیڅوک نه ورانوي دا به تل پر همدې ځای وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دي سره کليوال ډير خوشحاله سول او د خوشحاليه يي نارې او چکچکې کړي اشرف خان علي ته ور نيږدي سو او بيا يي ورته وويل: ځوانه ته څوک يي ددي کلي خو نه معلوميږي؟

علي وويل: بلي هو زه د ښار يم همدلته زموږ د يو دوست کور وو هغه ته راغلی وم خو چي ومي ليدل چي تاسو په ستونزه کي ياست او ظلم در سره کيږي نو ځکه ستاسو د کمک لپاره راغلم،

اشرف خان وويل: نه پوهيږم چي تا دا ظالم سردار خان څنگه قانع کی چي ددي مکتب د ورانولو څخه لاس واخلي خو بيا هم آفرين دي وي دربانديي پر ما او دي کليوالو دي ډير لوی احسان وکی په بدل کي چي يي هر څه غواړي دربه يي کم،

علي موسکی سو او بيا يي وويل: نه نه صاحبه زه هيڅ شي ته هم ضرورت نلرم بس زه پر چا ظلم نسم زغملای او د ظالم سره د مقابلې په بدل کي زه هيڅ نه غواړم،

اشرف خان وويل: خو گوره ځوانه ته سردار خان نه پيژنې هغه ډير ظالم سړی دی هغه به تا نه پريږدي،

علي موسکی سو او بيا يي وويل: صاحبه هغه او د هغه کسان ماته لاس هم نسي راوړلای،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان وويل: بيا هم پر ځان دي پام کوه او هو رښتيا ستاسو دوست څه نوميدی او د هغه کور چيري دی درڅه زه به دي ورسوم د هغو کور ته،

علي وويل: زه د تفريح او سياحت لپاره د ډير وخت وروسته د هغه کور ته رالاړ ما فکر کوی چي هغه به اوس هم دلته اوسيږي خو هغه نه وو،

اشرف خان وويل: زه ددي کلي مشر يم لاندي په کلي کي زما ډيره غټه کلا ده چي په نارنج کلاء سره مشهوره ده تر هره وخته هلته اوسيدلای سي،

علي وويل: نه نه صاحبه زه چاته تکليف نه ورکوم زه بيرته ښار ته ځم،

اشرف خان وويل: نه هيڅ تکليف نه دی زموږ دومره لوی کور دی چي ټول کلی په کښي اوسيدلای سي تر هغه وخته چي رخصتي دي خلاصيږي زموږ سره به اوسيږي.

علي وويل: سمده چي ستاسو خوښه وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي او اشرف خان د مشرانو څخه اجازه واخیستل او په موټر کي د اشرف خان د کلاء پر خوا روان سول په لاره کي اشرف خان و علي ته وویل: ستا نوم څه دی ځوانه؟

علي وویل: زما نوم علي دی،

اشرف خان وویل: ډیر ښه علي تا نن زما او ددي ټولو کلیوالو زړه وګټی تاسو په ښار کي څه وظیفه لری؟

علي وویل: زه محصیل وم،

اشرف خان وویل: وم؟ یعني اوس نه یي،

علي د اشرف خان پوښتني ته جواب نه ورکی او څو شیبې وروسته یي د موټر دباندي لیري ځای ته اشاره وکړه او بیا یي وویل: ستاسو کور نارنج کلاء را ورسیدل،

اشرف خان حیران سو چي علي ته زموږ کلاء څنګه ور معلوم ده نو ځکه یي پوښتنه څني وکړه: علي تا ته زموږ کلاء څنګه در معلومه وه؟

علي وویل: خو تاسو راته ویلي وه چي زموږ ډیره لویه کلاء ده په دي کلي کي بل داسي لوی کور ما نه ولیدی بیله دي کلاء ماسیوا،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان موسکی سو بیا یي وویل: علي ډیر زیرک یاست،

علي وویل: مننه صاحبه،

کله چي د موټره راکښته سول نو په کلاء کي ولاړ سپی  د علي په لیدو ډیر غپیدی خو باندي راتلای نسوای او شاته شاته به یی ځغستل ،اشرف خان حیران سو او علي ته یي وویل:ولا جالبه ده مخکې چي به تړلی هم وو خو چي نابلده څوک به یي ولیدی نو ځان به یی د ډیره زوره خلاصوی او په هغه پسي به یي ځغستل خو اوس ایله هم دی خو بیا هم څه نه درته وایي او شاته شاته کیږي در څخه بیریږي،

علي موسکی سو بیا یی وویل: حیوان دی نو کله به یی طبعیت سم وي.

علي او اشرف خان نارنج کلاء ته ننوتل علي ددي لویي کلاء په لیدو وویل: په دي دومره لویه کلاء کي تاسو یوازې اوسیږی؟

اشرف خان وویل: دا کلاء ما د ځان او د خپلو څلورو ورونو لپاره برابره کړه سره،

علي وویل: نو هغوی چیري دي اوس؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان وويل: هغوی زما څخه خوابدي سول او راڅخه جلا سول،

علي وويل: پر څه خبره؟

اشرف خان وويل: خیر بیا به پر کراره درته ووایم،

څو شیبې وروسته اشرف خان علي و خپل میرمنې او د کور ځینو نورو غړو ته ور معرفې کی او هغوی یي هم علي ته ور معرفې کړل، تر معرفۍ وروسته اشرف خان د کور په دوهم منزل کي علي ته خپل اطاق ور وښوی او بیا یي علي ته وویل: علي چي هر څه ته دي ضرورت کیږي نو خدمتګارانو ته مازې ور ږغ کوه هغوی به هر څه درته اماده کي،

علي وویل: مننه صاحبه،

اشرف خان د علي د اطاقه څخه راووتی او د علي د اطاق مخته ولاړ خدمتګار ته یي وویل: د علي زیات خیال ساته او په ورځ کي حتماً څو څو وارې اطاق ته ورځه چي کله دی دلې وي او ورته وایه چي کوم څه ته خو به یي ضرورت نه وي اوس ورسه ورته ووایه چي څه ته خو به ضرورت نه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمتگار وویل: سمده صاحبه،

کله چي خدمتگار د علي اطاق ته دننه ورغلی نو علي ته يي وويل: علي صاحبه څه ته خو به مو ضرورت نه وي؟

علي ورته وويل: نه نه اوس خو مي څه ته ضرورت نسته مننه،

خدمتگار څو شيبې د علي په اطاق کي ولاړ وو تر څو شاوخوا وگوري چي په اطاق کي خو به د کوم څه کمی نه وي کله چي يي وکتل چي د کوم څه کمی نسته نو د علي د اطاقه ووتی او ولاړی،

ورځ تيره سوه او شپې خپلي تيارې خپرې کړي سردار خان په خپل کور کي ډير خوابدی او غوسه وو يو بدماش ورور يي ورته وويل: لالا ته مازې آمر وکه ستا ومخته به هغه راولم او ستا ومخته به يي د توپنچې شپږ سره مرمۍ په سر کي ور خالي کم،

سردار خان تر څه فکر کولو وروسته وويل: هغه داسي يو عام انسان نه دی په هغه کي حتماً يو خبره سته او پر هغه باندې د حملې کولو غلطي هيڅکله ونه کی تر څو چي ما درته ويلي نه وي خو زه دې ځای ته حيران سوم چي هغه زما په ټولو کارو ښنگه خبر وو او زما د کاروبار هر ځای ښنگه ور معلوم وو که هغه لږ هم پر موږ شکي سو چي موږ پر هغه حمله کړيده يا غواړو تاوان ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسوو نو هغه به پوليسو ته زما ټول غيري قانونې کارونه ور وښيې او زه نه غواړم چي داسي وسي که نه زه به تباه او برباد سم او تاسو ته وايم تر څو چي ما درته ويلي نه وي هيڅوک به هغه ته لاس هم نه ور وړی دا زما آمر دی،

سهارګاه سوه او رڼا خپلې شغلې د کلې پر درختو او لوړو خپرې کړي،کله چي د سهار د ناشتې وخت سو نو اشرف خان د کور په پارک کي اماده سوې ناشتې ته راووتی او خدمتګار ته يي وويل: ورسه علي ته ووايه چي صاحب وايي د سهار ناشته تياره ده راسه !

خدمتګار د علي د اطاق پر طرف ور روان سو کله چي ور ورسيدی نو د علي د اطاق دروازه يي ور خلاصه کړه او دننه ورغلی خو کله چي اطاق ته ور دننه سو ګورې په اطاق کي هيڅوک نسته او د اطاق ټول شيان داسي پراته وه لکه څنګه چي تيره ورځ وه يعنې هيڅ تغير نه وو پکښي راغلی او داسي نه معلوميدل چي څوک دي په دي اطاق کي اوسيدلی وي، خدمتګار ډير حيران سو چي دا څه کيسه ده او علي چيري دی نو ځکه يي په اطاق کي دننه ور ناره کړه چي علي! علي! علي صاحبه، خدمتګار فکر کوی چي علي به د اطاق په تشناب کي وي نو ځکه يي نارې ور وهلي خو چي کله د تشناب خواته ورغلی نو هلته هم نه وو وروسته د علي د اطاق څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راووتی کله چي په زینو کي لاندې کښته کیدی نو یو بل خدمتګار چي پورته تلل یي غوښتل وویل: ایا د علي صاحب اطاق تا ورته صفاء کړیدی؟

خدمتګار وویل: نه ولې؟

اول خدمتګار وویل: نه پوهیږم د علي صاحب د اطاق څخه داسي معلومه سول چي هغه په اطاق کي ماښام نه وو او اوس هم نسته خپل اطاق کي،

دوهم خدمتګار موسکی سو او ویویل: مسخرې مکوه علي صاحب هغه دی د خپل اطاق څخه راووتی او ستا و شاته را روان دی،

کله چي اول خدمتګار شاته وکتل نو علي رښتیا هم را روان وو کله چي علي اول خدمتګار ته را ورسیدی نو ورته موسکی سو او پر اوږه یي لاس ور ونیوی او ورته ویویل: څه خبره ده ولې دي په اطاق کي نارې وهلې؟

خدمتګار حیران حیران د علي خواته کتل او بدن یي د بیرې ریږد ونیوی بیا علي لاندې کښته سو او د اشرف خان خواته ورغلی اشرف خان یي ښه راغلاست ووایه او بیا ور سره د سهار ناشتې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېنستی علي په خبرو کې اشرف خان ته وویل: ستاسو څو اولادونه دي؟

اشرف خان وویل: دوه مې زامن دي او یوه لور،

علي وویل: هغوی چېرې دي؟

اشرف خان وویل: زامن مې په خارېج کې پوهنتون وايي او لور مې په ښار کې ده او علي تېره ورځ تا زما څخه پوښتنه کړې وه چې زما ورونه زما څخه پر څه خوابدې سول او ولې زما څخه جلا سول سردار خان پوهيدی چې زما طاقت زما ورونه دي نو ځکه يې تل کوښښ کوی چې زما او د ورونو تر مينځ مې بيلتون راولي يو ورځ دی په دې کار بريالی سو او زما ورونه يې زما پر ضد راپورته کړل لکه څنگه چې زه د ټولو ورونو مشر ورور يم نو ځکه کاروبار هم ټوله ما کوی او د پلار شتمنې هم ټوله زما په اختيار کې وه نو زما ورونو د سردار خان په توطئو زما څخه د خپلو حقونو غوښتنه وکړه چې بايد زه هر يوه ته خپل خپل حق ورکم،

علي وویل: نو تاسو ولې نه ورکوی؟

اشرف خان وویل: زه بیریدلم که يې حق ورکم نو بې ځايه به يې مصرف کې که دوی پر کاروبار لگولای ما به ور کړي وای خو زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهیدم چي دوی یي پر کاروبار نه لګوې یو څه وخت به په خوشحالی ژوند په وکي خو نور ټول عمر به یي په فقر باندي تیر سي خو دوی دا فکر کوی چي زه د دوی حق خورم نو ځکه ټول راڅخه جلا سول او زه یي یوازې پریښودم ما هغوی ته ډیر وویل چي داسي مکوی دا ستاسو په تاوان کي دي زموږ دوښمنانو موږ بې اتفاقه کوي خو هغوی زما خبره نه منل ته پوهیږي علي چي کله هغوی زما څخه جلا سویدي نو زما ژوند پر بل مخ اوښتی دی خوب مي راڅخه تښتیدلی دی زیاتره خوشحالۍ مي د دوی سره ولاړي د ژوند امیدونه مي ډیر کم سول،

اشرف خان د ورونو جلاوالي ډیر غمګین کړی وو نو ځکه یي تر سترګو اوښکي رواني سوې د اشرف خان اوښکو علي هم غمګین کی تر څو شیبو وروسته څو کلیوال د اشرف خان کور ته راغلل او تر روغبړ وروسته یي د اشرف خان سره پر څه موضوع بحث شروع کی تر بحث څو شیبې وروسته اشرف خان علي ته وویل: علي زه مي دفتر ته ځم کوم څه ته خو به ضرورت نلري؟

علي وویل: نه نه مننه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي اشرف خان د کوره ووتی نو هغه خدمتگار چي د علي اطاق ته ورغلی وو راغلی او د ناشتې لوښې یي ټولول او د سترگو تر کونجانو یي علي ته کتل د خدمتگار لاسونه له بیري ریږدیدل او په لاس کي نیولي لوښې یي هم د هغه د ریږدیدو په وجه ښوریدل علي خدمتگار ته وکتل بیا په خندا ور ولاړ سو او د هغه پر اوږه یي لاس واړوی او بیا یي ورته وویل: ستا نوم څه دی؟

کله چي علي د خدمتگار پر اوږه لاس ور ونیوی نو هغه نور هم وارخطاء سو او وبیریدی، علي ورته وویل: مه بیریږه زه هم ستا په رکم انسان یم اوس نو راته ووایه چي نوم دي څه دی؟

خدمتگار په ریږدیدلي ږغ وویل: سلطان دی صاحبه،

علي وویل: سلطانه زما یو کوچنی غوښتنه مني؟

سلطان وویل: هو ولي نه صاحبه،

علي وویل: که خپه کیږي نه نو کله چي زما و اطاق ته راځي نو دروازه دوه واري ټکوه او غوښتنه دي وایه او بیا څه اطاق ته دننه مه راځه سمده؟

سلطان وویل: سمده صاحبه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي د جيب څخه څه اندازه پيسي را وکښي او سلطان ته يي ورکړي او ورته ويويل: ميرمن دي ناروغه وه هغه ډاکټر ته بوځه او د هغې هغه نوې سره کالې خوښ دي هغه ور رانيسه،

په دي سره سلطان نور هم ډير وبيريدی چي علي دده د ميرمنې په ناروغۍ او د هغې د سرو کالو په خوښه څنګه خبر دی، بيا علي ورته وويل: او ګوره سلطانه په دي اړه چاته ونه وايي که نه نو ډير به در څخه خوابدی سم سمده؟

سلطان وويل: سمده صاحبه،

وروسته علي د کوره ووتی سلطان هغه ته تر شاه تر ډيره کتل خو وروسته يي علي تر سترګو خام سو دوهم خدمتګار چي سلطان او علي يي ليدل سلطان ته وويل: څه خبره ده ولي داسي بيريدلی يي او علي تاته دا پيسې ولي درکړي؟

سلطان وويل: څه خبره نه ده د علي څه ته ضرورت وو نو ماته يي وويل چي زه دلته نابلده يم ته يي راته راوړه ما ورته ويل سمده نو ځکه هغه پيسې راکړي،

دوهم خدمتګار چي کله د سلطان بيره وليدل نو هغه هم حيران سو او د سلطان په خبر يي باور ونکی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کلې کې خوابښې او مړوور د بازار څخه د خپل کور پر طرف روان وه چې خوابښې یې مخته او مړوور عاقِله یې د شا څه لیرې ور پسې روانه وه تر څه تګ وروسته عاقِله په یو کډې کې غوځاره سوه یو بغلته وغورځیدل او پښه یې د بنده وختل او کړه سوه هغې ډیر وژړل او د درده یې نارې وهلې کله چې یې خوابښې ورته وکتل نو هلته لیرې ورته ودریدل او د ځان سره یې وویل: ټګمارې بیا ټګمارۍ شروع کړې ولاکه در سم نازونه به نه راته کوې،

عاقِله د درده تپیدله او ژړل یې چې په دې وخت کې علي دې ځای ته راورسیدی کله چې یې عاقِله ولیدل نو ور ویځغستل او ورته ویویل: څه خبره ده خورکۍ؟

عاقِلې وویل: غوځاره سوم او پښه مې د بنده وختل وروره،

علي ورغلی او د عاقِلې پښه یې په لاس کې ونیول او بیا یې عاقِلې ته وویل: خورکۍ د یو څو شیبو لپاره سترګې پټې که،

کله چې عاقِلې سترګې پټې کړې نو څو شیبې وروسته علي ورته وویل: خورکۍ اوس سترګې خلاصې که،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي عاقِلې سترګې خلاصي کړي نو ویلیدل چي پښه یې سمه سوې وه عاقِله ډیره خوشحاله سوه بیا علي ورته وویل: اوس ولاړه سه!

کله چي عاقِله ولاړه سوه نو پښې یې څه څه درد کوی نوره سمه سوې وه بیا علي ورته وویل: څنګه سو خورکۍ سمه سوې؟

عاقِلې وویل: هو وروره خو لږ لږ درد لا کوې،

علي ورته وویل: چیري ځې؟

عاقِلې وویل: بازار ته تللې وو اوس بیرته کور ته ځو،

علي ورته وویل: درځه زه به تر کوره کمک در سره وکم،

علي عاقِله تر لاس ونیول د هغو د کور پر طرف روان سول کله چي د عاقِلې خوانېي عاقِله او علي یو ځای سره ولیدل نو ډیر غوسه سول او په ځغاسته د کور پر طرف روانه سول، علي عاقِلې ته وویل: هغه ستا خوانېي وه؟

عاقِلې وویل: هو ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي موسکی سو او بیا یي وویل: هغه ډیره غوسه سوه چي کله ما ستا سره کمک وکی هغه ولاړه او اوس ستا خاوند خبروي او ستا بد ورته وايي،

عاقِله ډیره وارخطاء سوه او بیا یي وویل: ته ولاړ سه ورور جانه که زما خوابنې زما خاوند ته بد وویل نو هغه به تا نه پرېږدي،

علي وویل: که ولاړم نو هغه به ټول زور تر تا وکاږي او ډیره به دي ورټې ښه دی چي د حقیقت څخه خبر سي،

عاقِلې وویل: ته زما خاوند نه پیژني ورورہ هغه د پهلوانانو د روزنې د مرکز مشر دی او ډیر ظالم دی د هرې خور پځیر زه هم خپل ورور په مشکل کي نسم لیدلای پرېږده یي چي ماته هر څه وايي،

علي موسکی سو او بیا یي وویل: او زه بیا خور په مشکل کي نسم لیدلای،

عاقِلې وویل: خو وروره..... ،

علي د عاقِلې خبره قطعه کړل او ویویل: ما ته یي پرېږده،

کله چي علي او عاقِله د عاقِلې د خاوند کور ته ورسیدل نو د عاقِلې خاوند او څو نور پهلوانان ور سره ولاړه وه او د عاقِلې خاوند ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوسه وو بیا د عاقِلې خوانېې خپل زوی ته وویل: دا دی ما نه درته وویل چې ستا میرمنې د پردې هلک سره پر لارې باندېارونه کول،

علي عاقِله یو بغلته کښینول عاقِلې غوښتل خپل خاوند ته حقیقې کیسه وکړي خو هغه د غوسې غوښتل عاقِله په چپلاخه (څپیړه) ووهې خو علي یي لاس ونیوی او ورته ویویل: حقیقي کیسه واوره او بیا فیصله وکه ستا مور چې څه درته ویلې دي هیڅ حقیقت نه دي،

علي نورې خبرې کولې چې په دي وخت کي د عاقِلې خاوند علي لیري وغورځوی علي ورته وویل: گوری! زه نه غواړم جنگ وکم خو که مو درد راوستی راته او زه درته په غوسه سوم نو بیا مو نه پریږدم،

خو د عاقِلې خاوند علي تر کالو ونیوی او په درد یي ورته وویل: څه به وکي ونیسه وبه دي وینم،

علي ډیر په غوسه سو او د عاقِلې خاوند یي د ځان څخه په ډیر زور لیري وغورځوی په دي سره ټول ډیر حیران سول او د عاقِلې د خاوند ملگري او شاگردان وبیریدل او هیچا جرأت نسوای کولای چې ور نیږدي سي د عاقِلې خاوند د مځکې سره سخت لگیدلی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د ولاړیدو توان يي نسواى كولاى علي د هغه خواته ور نيږدي سو او تر څنګ يي كښينستی عاقِلې ته يي اشاره وكړه او بيا يي وويل: هغه زما خور ده او ته مي اخښې خور پر لاره ډيره سخته په مشكل كي وه نو ما د ورور پڅير د هغې سره كمک وكی په داسي حال كي چي ستا مور مخته روانه وه او هيڅ يي په كيسه كي نه وه كه ما د خور سره كمک نه واى كړى نو خور به د غټ مشكل سره مخ سوې واى كه تا زما خبره اول اوريدلي واى نو ما به داسي كار نه واى در سره كړى خو بيا هم زه بخښنه غواړم،

د عاقِلې د خاوند زړه څه نرم سو او بيا علي هغه د مځكې څخه راپورته كی او وروسته ځني روان سو د تلو په وخت كي د عاقِلې خاوند ور پسي ناره كړه: ستا نوم څه دی؟

علي ودريدی او ورته ويويل: علي،

د عاقِلې خاوند په موسكا ورته وويل: علي مننه،

علي هم موسكی سو او ويويل: د منني وړ نه ده پر خور مي پام كوه،

وروسته علي د عاقِلې د كوره ووتی او ولاړی كله چي ماښام سو نو د ماښام ډوډۍ تياره سوه خدمتګار سلطان د علي د اطاق پر طرف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور روان سو کله چي هلته ور ورسیدی نو سلطان د علي اطاق ته کرار ور نیږدي سو او پر دروازه یي خپل غوږ کښیښوی په اطاق کي هیڅ ږغ او کښهاری نه وو بیا سلطان تر څو شیبو وروسته دروازه ور وټکول او ویویل: علي صاحبه ډوډۍ تیاره ده،

سلطان بیا غوږ دروازې ته ور نیږدي کی خو بیا یي هم څه وانه وریدل وروسته ځني روان سو خو کله چي په ځینو کي کښته کیدی نو د علي د اطاق دروازه خلاصه سول او علي راووتی سلطان ډیر حیران سو خو علي ورته وویل: اشرف خان راغلی؟

سلطان په کښته ږغ وویل: صاحب وایي چي کله د ډوډۍ وخت سي نو ډوډۍ تیاروی او خورۍ یي که څه هم زه نه یم ما ته به نه انتظار کیږی،

علي د ډوډۍ میز ته راغلی او ټولو ته یي سلام ووایه د اشرف خان میرمنې نیرجلاء وویل: علي زویه ستاسو مور او پلار چیري دي؟

علي وویل: زما پلار چي زه کوچنۍ وم مړ سو او مور مي په ښار کي زما د ورور سره ده،

نیرجلاء وویل: په ښار کي مو کور چیري دی زویه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي وویل: د انجینرۍ د پوهنتون پر سړک دی،

نیرجلاء وویل: ورور دي څه کار کوي او تاسو څه وظیفه لرى؟

علي وویل: زه محصل وم او ورور مي محکمه کي قاضې دی،

نیرجلاء او علي باندار کوی چي څو شیبې وروسته اشرف خان راغلی کله چي د موټره راکښته سو نو په ځغاسته کور ته را دننه سو او ډیر خوشحاله وو او بیا یي وویل: ښځې، علي..... تاسو راسی زه څه درباندي وینم،

ټول دباندي ور ووتل خو علي څو شیبې وروسته د ډوډۍ د میز څخه ولاړ سو او د دباندي وتلو نیت یي وکی،

کله چي ټول دباندي ور ووتل نو د اشرف خان د موټره څخه دري نفره او د شا د موټر څخه کوچنیان او ښځې راکښته سولې د اشرف خان میرمنه ډیره حیرانه سول او د هغو پر طرف ورغلل تر روغبړ وروسته هغو غوښتل دننه ننوځي چي په دي وخت کي د هغو درو کسانو نظر پر علي ولگیدی او ډیر حیران سول او بیا درو سره په حیرانۍ وویل: ته!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان حیران سو بیا یې وویل: دا زموږ میلمه علي دی تاسو دی مخکې لیدلی وو؟

هغو وویل: لالا خو همدا نفر نن زموږ کورو ته راغلی او موږ یې د حقیقته خبر کړو او موږ ته یې داسې جادویې خبرې وکړې چې موږ خپل د اشتباه احساس وکی او ستا څخه د بخښنې لپاره ستا دفتر ته درغلو،

اشرف خان حیران سو او بیا یې وویل: څه؟

ورونو یې وویل: هو لالا همدا ځوان راغلی وو نن زموږ کورو ته،

اشرف خان علي ته وکتل د علي پر مخ موسکا خپره وه بیا اشرف خان ورته وویل: علي دوی رښتیا وایي؟

علي په موسکا ورته وویل: ما خو هیڅ نه دي کړي یو خو مي د دوی سره ستا حقیقې مینه ورته وویل او بل دا چې زه څوک په ستونزه کې نسم لیدلای او کله چې مي سهار ستا اوښکې ولیدلې نو ما ته یې خوند نه راکی او ډیر پریشانه سوم،

اشرف خان وویل: خو علي دا هر څه تا څنګه وکړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي وويل: دا پرېږده دا خوشحالي ولمانځه چي ستا ورونه ستا سره بيرته يو ځاى سول،

اشرف خان وويل: علي نن دي يو وار بيا زما زړه وګټی افرين پر هغې مور چي ستاسو پڅير زوی يي تربيه کړيدی او بل تا بله هم ښه خبره وکړه چي بايد دا ستره خوشحالي ولمانځو نو دوې ورځې وروسته پنځنی(پنجشنبه) ده زما د لور د پوهنتون د فارغه کيدو ورځ هم ده دواړې خوشحالی به په هغه ورځ ولمانځو او لويه ميلمستيا به جوړه کړو،

وروسته اشرف خان او ټول د کورنی نور غړي کور ته ننوتل، سهار چي کله دا خبر چي د اشرف خان ورونه د اشرف خان سره بيرته يو ځاى سول سردار خان ته ورسيدی نو هغه نور هم ډير پريشانه سو بيا يي وويل: نه پوهيږم دا د رزيل زوی د کمه سو چي د اشرف خان لاسونه جوړ سو او د هغه هره ستونزه ور حلوي،

د سردار خان ورور وويل: لالا که مو دي هلک ته نور وخت ورکی نو اشرف خان به زموږ پر سر راکښينوي زه خو وايم نور به يي کار ور خلاص کو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار خان وويل: يو پلان ورته جوړ که او په پټه يي کار ور خلاص که چي څوک درڅخه خبر نسي او د اشرف خان په کور کي يي دننه ووژنه که يي دباندي ووژنې نو حتماً پر موږ تاوانيږي،

د سردار خان ورور وويل: سمده لالا نن ماښام ته به يي کار ور خلاص کو،

سردار خان وويل: سمده خو احتياط کوه ځکه هغه هلک ډير چالاکه ماته رامعلوم سو،

علي د خدمتګارانو سره د مراسيمو لپاره د کور د دباندي ساحې په تيارولو اخته وو چي په دي وخت کي اشرف خان دباندي راووتی کله چي يي وليدل چي علي د کور په تيارولو اخته دی نو ورته ويويل: علي ته ولي تکليف کوې دوی يي هغه دی تياروي،

علي وويل: نه نه هيڅ تکليف نه دی ما ته داسي کارونه ډير خوند راکوي،

اشرف خان وويل: علي تا زما لپاره ډير ښه کړيدي زه به دي هيڅکله احسانات نه کم در اداء،

علي وويل: را اداء کولای يي سي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان وويل: هغه څنګه؟

علي وويل: زما يو کوچنۍ غوښتنه به مني،

اشرف خان وويل: که ته زما څخه زما د شتمنۍ نيمايي برخه وغواړي هم به يي درکم وغواړه چي هر څه غواړي،

علي د کور دباندي يو اطاق ته اشاره وکړه او ويويل: زه غواړم تر هغه وخت چي ځم په دغه اطاق کي و اوسيږم،

اشرف خان حيران سو او ويويل: ددي اطاق څخه خو موږ د زړو شيانو د ايښوولو کار اخلو چي اوس خالي دی او د اوسيدو نه دی ولي په هغه بل اطاق کي دي څه مشکل دی؟

علي وويل: ستاسو کورنۍ ماشاءالله لويه ده تر څو چي تاسو هلته دننه په ارامه اوسی نو ځکه ما فيصله کړيده چي نور دلته و اوسم،

اشرف خان وويل: علي ته خو هم د همدي کورنۍ غړی جوړ سوی يي ځکه تا زما لپاره هغه کارونه وکړه چي د کورنۍ تر غړي هم راباندي ګران سوي ته به دي پخپل مخکيني اطاق کي اوسي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي وويل: خان صاحب ما غوښتنه در څخه وکړل که ته زما دا غوښتنه ومني نو زه به ډېر خوشحاله سم گواکې تا زما ټول احسانونه را اداء کړل،

اشرف خان وويل: خو علي.....،

علي د اشرف خان خبره پري کړل او ورته ويويل: هيله کوم خان صاحب،

اشرف خان وويل: سمده چي څنگه ستا خوښه وي،

وروسته اشرف خان خدمتگارانو ته امر وکی چي د علي انتخاب سوی اطاق ورته سم جوړ کي خدمتگارانو هم د علي په خوښه اطاق ورته برابر کی، د سردار خان د ورور جاسوسان د کور مخته تيريدل او د علي هر حالت يي څارۍ او د سردار خان ورور ته يي حال ورکوی کله چي ماښام خپلې تيارې خپري کړي او د ماښام ډوډۍ وخوړل سول نو علي د خپل اطاق پر خوا روان سو علي د کور دباندي پيره دارانو ته وويل: تاسو ورسی بيده سی زه ويښ يم زه څارنه کوم، پيره داران ولاړل او علي خپل اطاق ته دننه سو د سردار خان ورور او نور ملگري د کور تر څنگ پټ وه کله چي د کور دننه ړغونه ورک سول نو دوی پوه سول چي ټول بيده سول

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ځکه کور ته د ورتلو نیت یې وکی ټول کور ته دننه سول او د علي د اطاق خواته ورغلل علي خپل د اطاق گروف بند کړی وو کله چي د سردار خان ورور او ملگري یې د علي اطاق ته دننه سول نو غوښتل یې چي گروف ولگوي کله چي یې گروف ولگوی نو ویلیدل چي په اطاق کي هیڅوک نسته ټول ډیر حیران سول د سردار خان ورور وویل: دا څه سو خو همدا اوس اطاق ته را دننه سو په مځکه ننوتی؟

ټولو شاوخوا کتل چي په دي وخت کي د اطاق دروازه وتړل سوه د دروازې په تړلو سره ټول ډیر وارخطاء سول په همدي وخت کي د اطاق گروف هم بند سو، څو شیبې وروسته چي ټول په هوښ کي راغلل نو ټول د اشرف خان د کور څخه څه لیري دباندي پراته وه او د ټولو مخان په وینو رنگ او ټول زخمې وه چي کله په هوښ راغلل نو ډیر وارخطاء سول او ټولو د خپلو کورو پر خوا وځغستل،

کله چي سهار سو نو اشرف خان او د کورنۍ نورو څو غړو غوښتل د اشرف خان د لور د فارغه کیدو مراسیمو ته ولاړ سي نو ټول تیار سول او غوښتل یې چي موټرانو ته وخیږي اشرف خان علي ته وویل: علي ته اماده یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي وويل: خان صاحب زه به دلته کلاء او نور شیان سره سمبال کم تاسو ورسی،

اشرف خان وویل: هغه به خدمتگاران تیار کي ته راځه زموږ سره ولاړ سه،

خو علي ټینگار کوی چي زه همدلته پاته کیږم وروسته ټول ولاړل او په کور کي علي او خدمتگاران پاته سول علي کور ډیر ښایسته تیار کی کله چي مازدیگر سو نو اشرف خان لور یي او د کورنۍ نور ټول غړي راغلل کله چي کلاء ته را دننه سول نو د ټولو خولې خلاصې پاته سوې ټول ډیر حیران سول ځکه نارنج کلاء یو بل ډول ښکلا اخیستې وه کله چي د اشرف خان لور د موټره څخه راکښته سول نو ویویل: واو څومره ښایسته،

بیا یي پلار ته وویل: بابا ددي ډیزاین او ښکلاء دي هیڅ ثارۍ نسته،

اشرف خان حیران وو بیا یي خدمتگار ته وویل: دا چا وکړه؟

خدمتگار وویل: علي صاحب وکړه،

اشرف خان نور هم حیران سو بیا یي وویل: څه؟ دا هر څه یوازي علي وکړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمتگار وویل: هو صاحبه،

د اشرف خان لور مسکان وویل: دا علي ډیر آشنا نوم را معلوم سو دا څوک دی بابا؟

اشرف خان وویل: علي دا څه وخت کیږي زموږ میلمه دی هغه چي دا کلی یي د جهالت څخه وژغوری او ستا اکاګان یي بیرته خپل کور ته راوستل هغه نور هم ډیر داسي کارونه کړیدي چي د ټول کلي د خلکو زړونه یي خپل کړیدي،

مسکان په فکر کي ډوبه سول او بیا یي په حیرت او لوړ اواز وویل: هغه چیري دی بابا؟

اشرف خان هم حیران سو چي مسکان ولي دومره په حیرت پوښتنه وکړه نو یي ورته وویل: ولي لورې خیریت دی؟

مسکان وویل: بابا ستا هغه ورځ پیاد ده چي زه په رود کي لویدلي وم؟

اشرف خان وویل: هو لوري،

مسکان وویل: هغه چي زه یي وژغورلم د هغه ځوان نوم هم علي وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان حیران سو بیا یي وویل: څه؟

مسکان وویل: هو بابا د هغه ځوان نوم هم علي وو کیدای سي دا زموږ میلمه همهغه علي وي چي تا یي د لیدو ارمان درلودی،

اشرف خان نور هم حیران سو او بیا یي وویل: بلکل همدا علي دی ولي چي زیاتره وخت علي هلته وي چیري چي یو څوک په مشکل کي وي،

بیا اشرف خان خدمتگار ته وویل: علي چیري دی او څه سو؟

خدمتگار وویل: نه پوهیږم څو شیبې مخکې د کور څخه دباندي ووتی،

ټول دیته انتظار وه چي علي ووینې تر څو مسکان ووایي چي همدا هغه ځوان وو یا نه وو خو میلمستیا پیل سول خو علي لا هم نه راغلی اشرف خان هم په میلمستیا کي د علي په نشتون ډیر پریشانه وو تر څنگ یي مسکان هم په دي انتظار وه چي ژر علي ووینې چي ربښتیا هم هغه علي دی چي دا یي ژغورلي وه که نه خو میلمستیا خلاصه سوه علي نه راغلی سهار هم ټول ورته په انتظار وه خو د علي هیڅ درک نه وو د ټولو دروازې ته سترگې وختلي کله چي غرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يي سول نو ګوري چي علي کور ته را دننه سو خدمتګار وويل: علي راغلی!

کله چي ټول ور ووتل نو علي د دوی پر طرف را روان وو مسکان او اشرف خان چي کله دباندي راووتل نو د علي په ليدو مسکان ډيره خوشحاله سوه او په مسکا يي پلار ته وويل: بابا دا هغه ځوان دی!،

اشرف خان ډير پريشانه وو کله چي علي راورسيدی نو اشرف خان په غوسه ورته وويل: ته چيري وي؟

علي په موسکا وويل: هغه د يو ملګرې پوښتنې ته ورغلی وم،

اشرف خان وويل: نو خبر دي ولې نه راکی چي زه ځم؟

علي وويل: ما فکر وکی چي تاسو په مراسيمو کي ياست نو نه مي غوښتل چي مزاحمت درته وکم،

اشرف خان په غوسه وويل: بي عقله تر تا نو ماته هغه مراسيم مهم وه؟

علي ته په بي عقل ويلو سره علي او ټول ډير حيران سول بيا د اشرف خان تر سترګو اوښکې راغلي او ويويل: ته پوهيږي چي د تيري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځې راهیسې پر ما څه تیر سول په ټول عمر کې مې دا دوهم وار وو چې دومره په اندیښنه کې وم،

علي وویل: زه بخښنه غواړم خان صاحب،

اشرف خان چې تر سترګو یې اوښکې رواني وې وویل: بې عقله،

وروسته یې علي په غیږ کې ونیوی او ویویل: بیا داسې بې عقلې هیڅکله ونه کې،

څو شیبې وروسته اشرف خان خپل لور ته اشاره وکړه او علي ته یې وویل: علي دا دې وپیژندل؟

علي مسکان ته وکتل او بیا یې وویل: نه خان صاحب،

اشرف خان موسکی سو او بیا یې وویل: د ښو خلکو همدا عادت وي چې ښه وکي او بیا یې هیر کي علي در پیاد یې که څو اوونۍ مخکې تا دا په رود کې ژغورلې وه که ته هلته نه وای نو دا بې عقله به هم اوس نه وای دلته علي دا زما لور مسکان ده،

علي وویل: هو هو پیاد مې سوه څنګه یاست اغلې؟

مسکان وویل: ښه یم تاسو څنګه یاست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي وویل: زه ډیر ښه یم الحمدالله،

اشرف خان وویل: علي د میلمستیا لپاره چي دي په دا حیرانونکې ډیزاین کلاء ښایسته کړي وه د هغه لپاره مننه،

علي وویل: خان صاحب مننه بیا ولي کوې مننه خو پردې کوي خپل نه او دا کور زه خپل کور ګڼم،

د اشرف خان میرمنې نیرجلاء وویل: علي زویه تا به سهار ناشته هم نه وي کړي راسه یو وار ناشته وکه،

علي او نوره کورنۍ ټول دننه ولاړل کله چي ماښام سو نو مسکان د کور د بام سر ته وختل او د بام دروازه یي وتړل او هلته یي شاوخوا شنو مځکو ته کتل مسکان شنو مځکو ته په کتو کي غرقه سوې وه چي یو دم یي شاته علي سلام ووایه، مسکان په دي سره ډیره وبیریدل بیا یي وویل: اوه ودي بیرولم،

علي موسکی سو او بیا یي وویل: بخښنه غواړم اغلې،

مسکان وویل: ته ولي هغه ورځ داسي ژر ولاړي لکه چي ډیر تلوار دي وو که څنګه؟

علي وویل: نه تلوار مي نه وو خو هلته مي اړتیا هم نه وه نوره،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکان وويل: خو ما به د خپلو همصنفيانو سره معرفي کړی وای،

علي وويل: زه تل يوازيتوب خوښوم د مجلسو و معرفي کيدو سره مي نه ده جوړه کله کله چي مي ملګري ډير مجبوره کي بيا ور سره ځم،

مسکان وويل: علي ډير يوازيتوب مه خوښوه ځکه موږ په ژوند کي حتماً دوهم کس ته اړتيا لرو،

علي وويل: خو زه اوس يوازې الله ته اړتيا لرم،

مسکان موسکۍ سوه بيا يي وويل: علي ستا سره هم بحث نکيږي،

علي وويل: په بيلتون يي سم له حاله ووتمه: څه له غمه وم نشه څه ميخانې کړم،

مسکان وويل: واه واه ډير ښايسته ته پوهيږي علي زما د شاعرۍ سره زياته مينه ده خو نه يي سم ليکلای ته زما سره کمک کوې؟

علي وويل: زه هم شعرونه نسم ليکلای خو بس کله کله مي بې اختياره له خولې وځي،

مسکان وويل: علي ايا ته پر يو چا مئن يي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي وویل: نه ولې؟

مسکان وویل: ما خو اوریدلې دي چې څوک مئن وي بیا ښه شعرونه لیکلای سي،

علي وویل: خو مئنتوب یوازې څوک نه شاعر کوي ځني خبرې او ځني دردونه هم د چا څخه شاعر جوړوي،

مسکان وویل: هو همداسي خو ده علي،

علي اوږده ساه وکښل او تر څو شیبو وروسته یي وویل: مسکان شپه ناوخته ده ورسه نوره بیده سه تر ناوخته ویښه پاته کیدل ستاسو لپاره تاوان کوي،

مسکان وویل: ولې ستا لپاره لکه چي تاوان نکوي چي تر دا مهاله ویښ یي،

علي موسکی سو بیا یي وویل: زه خو نه بدیږم زه د خوب کمزوري نلرم،

مسکان وویل: ولې ته لکه چي د یو بلې دنیا څخه راغلی یي؟

علي په موسکا وویل: هو همداسي یي وبوله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکان وخندل او بیا روانه سول او علي ته یي ښه شپه وویل کله چي د بام دروازې ته ور ورسیدل نو یو دم ودریدل څو شیبې یي د بام دروازې ته کتل وروسته یي دروازه خلاصه کړل او لاندي کښته سول،

سردار خان وویل: نه پوهیږم دا بدبخته د کمه سو اول یي زما ورور او کسان پر ډیر بد حال کړل را او نن یي بیا زما د قاچاق سامان پولیسو ته پلاس ورکی،

د سردار خان یو نفر وویل: خان صاحب که ستا خوښه وي یوه حمله به بله پر وکو،

سردار خان وویل: یا یا بیا داسي بي عقلي ونه کی اوس یي زما څو موټران پولیسو ته پلاس ورکړل که بیا خبر سو چي موږ حمله پر کوو نو ټول کاروبار به مي را برباد کي،

څو شیبې وروسته سردار خان ته زنګ راغلی سردار خان جواب ورکي: بلي زویه څنګه یي ښه؟

زوی یي وویل: هو بابا ښه یم تاسو هم ښه یاست،

سردار خان وویل: هو زویه تر دي مهاله ښه یم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوی يي وويل: بابا ستا لپاره يو ډير ښه خبر لرم چي درلږ درته وبه يي وايم،

سردار خان وويل: همدلته راته induction وايه زويه،

زوی يي وويل: نه بابا ډير غټ کار مي ستا لپاره کړيدی داسي په اسانه خو يي نه درته وايم،

سردار خان وويل: نو ژر راسه زويه او دا ښايسته خبر راباندي واوره،

زوی يي وويل: سمده بابا په دا څو نيږدي ورځو کي درځم،

د سهار د لمر شغلې خپري سوې وې او مرغانو خپل سندرې پای ته ورسولي اشرف خان د خپل تجارت د ملګرو سره په څه خبرو مصروفه وو څو شيبې وروسته علي د خپل اطاق څخه راووتی کله چي اشرف خان ته ور رسيدی نو د اشرف خان ملګري ولاړل اشرف خان څه ستومانه او پريشانه معلوميدی او د غم ساوې يي کښلې علي تر سلام وروسته وويل: څه خبره ده خان صاحب داسي پريشانه معلوميږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان وویل: څه درته ووایم علي دا څو کلونه کیږي تجارته مي په تاوان کي روان دی څه وخت مخکې مي ډیره دوا راوړې وه چي د هغه د جملې څخه څه اندازه خرڅه سول خو د دا نورې دوا خرڅولو ته زیات وخت پکار دی خو د دوا تاریخ ته ډیر لږ وخت پاته دی که په دي لږ وخت کي دوا نه سوه خرڅه نو زه به ډیر زیات تاوان وکم،

علي وویل: دا خو دومره موضوع نه ده چي تاسو دومره زیات ورته پریشان یاست د دوا تر تاریخ پوره کیدو پوري په تلویزیونانو، راډیوګانو .....کي اعلان ورکوه چي هر څومره دوا خرڅه سوه هغه خرڅه که د پاته دوا لوحه او معلومات ور واړوه او د خطرناکو حیواناتو او حشراتو د وژلو ټاپه او معلومات پر ومښلوه دا یي ستاسو مشکل حل،

اشرف خان د علي مشورې ته ډیر په تعجب کي سو او د هغه مشوره یي ډیره خوښه سوه او علي ته یي وویل: ډیر ښه علي افرین ډیر ښایسته نظر دی خو هو زه دا کار ټول تاته سپارم،

علي وویل: زه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان وویل: هو علي ته او په بدل کي چي يي هر څومره پيسې ته غواړي او هر شي چي غواړي درکوم يي،

علي وويل: نه نه خان صاحب زه صرف ستا پر مخ خندا غواړم نور هيڅ نه،

اشرف خان وويل: علي که ته زما دا کار وکي نو ما به د ډير لوی تاوانه خلاص کي،

علي وويل: هر څه خو د الله له طرفه دي زه به خپل د بنده ګۍ کوښښ وکم تاسو درځی زه څو شيبې وروسته پسي درځم دفتر ته،

اشرف خان وويل: خو زما سره به په موټر کي ولاړ سي،

علي وويل: نه دلته مي کلې کي څه کار دی بيا وروسته پسي درځم،

اشرف خان وويل: يو موټر به در پريږدم هغه در سره بوځه،

علي وويل: نه نه خان صاحب زه موټر ته اړتيا نلرم د ملګري سره درځم،

اشرف خان وويل: سمده علي چي څنګه ستا خوښه وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي د کور څخه ووتی تر څه تګ وروسته یي تر یو درختې لاندي یو ځوان ولیدی کله چي ور نیږدي سو نو هغه غوښتل د هیروینو نشه وکي علي ورته وویل: ایا په دي سره به ستا غمونه او مشکلات حل سي،

هغه ځوان د علي په ناڅاپي ږغ ډیر وبیریدی بیا یي تر څو شیبو وروسته په ژړا وویل: څه وکم علي وروره د ژوند مشکلاتو دومره پر سر اخیستی یم چي د هیرولو لپاره یي مجبوره سوم چي دا چم وکم،

علي وویل: سدیسه که ته د یو میږي مخته یو لرګی کښیږدي هغه څه کوي؟

سدیس وویل: هغه د هغه لرګي څخه مخ اړوي او پر بل طرف ځي،

علي وویل: که ته هر واري د هغه ومخته لرګی کښیږدي هغه مخ ځني اړوي نو چي دومره کوچنی حیوان لا ماته نه مني نو ته ولي ماته مني د ژوند د مشکلاتو سره وجنګیږه هیڅوک مه پریږده چي ستا په ژوند کي ستا د نا آرمۍ سبب سي یو عالم وایي موږ خپل کور ته غل نه پریږدو تر څو د کور شیان مو وینسي نو هغه افکار او ستونزې ولي ځانته پریږدو چي زموږ خوشحالۍ زموږ څخه غلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي سدیسه دا نشه یي د حل لاره نه ده نشه ستا مشکلات نور هم زیاتوي نور دي هم په ستونزو کي اچوي دوست او دوښمن درڅخه ورک کوي،

سدیس وویل: ته خو صحې وایي علي وروره خو زه غواړم چي ددي ستونزو څخه ځان خلاص کم خو په هیڅ ډول نه خلاصیږم غوښتل مي کاروبار شروع کم خو پلار پیسې نه راکوي خو چي کور کښینم وایي چي کار ولې نکوې نو ته ووایه علي وروره زه څه وکم؟

علي وویل: آیا ته په رښتیا غواړي کار وکي؟

سدیس وویل: هو علي وروره،

علي خپل جیب ته لاس کی او څو بستې پیسې یي را وکښي او سدیس ته یي وویل: دا واخله کار په شروع که خو هو که خبر سوم چي پر بي ځایه شیانو در څخه ولاړې نو بیا به ډیر درڅخه خوابدی سم او هو زه پر تا باور لرم زما باور مه راماتوه،

سدیس د علي لاسونه په خپلو لاسو کي ونیول او په ژړا یي وویل: یا علي وروره هیڅکله نه،

علي سدیس په غیږ کي ونیوی او ورته ویویل: ژاړه مه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي علي پر خپل لار او سدیس پر خپل لار روان سول نو تر ځو شیبو وروسته سدیس یو دم ودریدی او د ځان سره یي وویل: علي وروور ښنګه خبر سو چي زه د مشکلاتو له وجې نشه کوم هغه ته خو زما په اړه هیڅ معلومات هم نه وه،

کله چي سدیس شاته وکتل نو علي تللی وو سدیس هلته څو شیبې حیران ولاړ وو او بیا ولاړی، اشرف خان په خپل دفتر کي علي ته انتظار وو اشرف خان په فکر کي وو چي علي ته خو زما دفتر هم نه دی ورمعلوم نو ښنګه به یي پیدا کي په همدې فکرو کي د دفتر څخه دباندې ووتی او خپل مرستیال ته یي وویل: قریشي! ورسه ساتونکو ته ووایه که علي نامی ځوان راغلی نو هغه زما دفتر ته راواستوی او راګرځوی یي مه او مه هم تلاښې په کښې کوی زه یو وار د بازار خواته ځم بیرته ژر راځم ته زما دفتر ته ورسه که علي راغلی هغه ته راپور او معلومات ورکه،

قریشي وویل: سمده صاحبه،

وروسته اشرف خان ولاړی او قریشي ساتونکو ته تر سپارښتنې وروسته د اشرف خان په دفتر کي علي ته انتظار سو د ډیر انتظار وروسته قریشي غوښتل د دفتر تشناب ته ولاړ سي نو ځکه یي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفتر دروازه په ځان پسي قلف کړل کله چي قریشي تشناب ته ولاړی څو شیبې وروسته بیرته راووتی ګورې چي په دفتر کي علي ناست دی کله چي علي قریشي ولیدی نو سلام یي ورته ووایه او بیا یي ورته وویل: زه علي یم د خان صاحب ملګری خان صاحب به زما په اړه درته ویلي وي؟

قریشي وویل: هو هو راته ویلي یي دي خان صاحب په کوم کار پسي ولاړی هغه به هم اوس را ورسیږي تاسو کښیني استراحت وکی،

علي وویل: د کمپنۍ راپور او معلومات راکه بس ده استراحت مو ډیر کړیدی اوس به یو څه کار وکو،

قریشي و علي ته ټول معلومات ورکړل بیا قریشي غوښتل په څه نورو اسنادو پسي دباندې ووځي کله چي د دفتر دروازې ته ور ورسیدی نو ویلیدل چي دروازه قلف ده قریشي حیران سو چي دروازه قلف ده نو علي څنګه دننه راغلی قریشي په همدي فکر کي وو چي په دي وخت کي اشرف خان هم را ورسیدی قریشي د اشرف خان سره په خبرو اخته سو وروسته قریشي ولاړی او اشرف خان دفتر راغلی او د علي سره یي تر روغبړ وروسته یي د دوا په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحث شروع کی علي تر معلوماتو اخیستلو وروسته د دوا په فروش رسولو شروع وکړه د دوا تر تاریخ پوره کیدو پورې ډیره دوا خرڅه سوه اشرف خان ډیر خوشحاله وو وروسته علي پاته دوا د حیواناتو او حشراتو د وژلو لپاره لابراتوار ته واستول تر معلومات وروسته دا دوا د ضررناکو مچانو او ملاریا لپاره ډیره ګټوره ثابته سوه تر لوحو اړولو وروسته يي بازار ته وړاندې کړه او په لږ وخت کي ټوله دوا رانیول سوه کله چي ټوله دوا خرڅه سول نو اشرف خان او قریشي په خپل دفتر کي حسابونه کول چي لږ وروسته علي راغلی دفتر ته اشرف خان د هغه په لیدو موسکی سو او بیا يي علي نیږدې ځانته راوغوښتی او د ۱۲۰ لکو پیسو چیک يي ولیکی او علي ته يي ورکی علي وویل: دا څه دي خان صاحب؟

اشرف خان وویل: دا ستا برخه ده علي تا چي زما سره د دوا په فروش کي مرسته وکړه زه دي د ډیر لوی تاوان څخه وساتلم او بله خبره دا چي ماته دي لس چنده زیاته ګټه را ورسول چي د هغې ګټې څخه مي صرف تاته یوه برخه درکړه زیاتې نه دي،

علي وویل: خان صاحب که تاسو ما پردی بولی نو دا پیسې راکه او که مي خپل بولې نو بیرته يي واخله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان وویل: علي ته ماته زما د خپل سکه زوی پخیر جوړ سوی يي خپلوې پر ځای ده خو اړتیا هر څوک لري ته به هم په ژوند کي ډیرې اړتیاوې لري چي د هغو پوره کولو لپاره پیسو ته اړتیا ده،

علي وویل: خان صاحب زه هیڅ اړتیا نلرم کم څه ته چي اړتیا لرم هغه صرف یو خدای راکولای سي تاسو دا پیسې په کلي کي پر یو روغتون جوړولو مصرف کی،

اشرف خان وویل: علي روغتون زه پخپلو پیسو جوړوم هغه زما په پلان کي دی خو دا ستا پیسې به ته حتماً اخلي،

علي وویل: خان صاحب زه تاسو ته ډیر احترام لرم خو زه تر خپلې خبرې هیڅکله نه یم اوښتی ستاسو د پاره به صرف یو څه واخلم نور تاسو پر روغتون ولګوی،

اشرف خان وویل: سمده علي چي څنګه ستا خوښه وي خو ته به هم زما یو شرط مني؟

علي وویل: څنګه شرط خان صاحب؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان وویل: د نن څخه به ته زما د ټول کاروبار مشاویر یي او زما ټول کاروبار به اداره کوې،

علي وویل: خان صاحب زه په یو ځای کي تر یو کال یا یونیم کال اضافه نه یم پاته سوی کله یو ځای کله بل ځای تر هغه وخته چي ستاسو سره یم پر مخ به یي یوسم خو تر هغه وروسته به بیا تاسو هم گیله نه راڅخه کوئ او نه به هم ما راگرځوی،

اشرف خان وویل: سمده علي خو ته ولي ځي زموږ څخه ایا کوم تکلیف درته رسیدلی دی که څنگه؟

علي وویل: نه نه خان صاحب هیڅ تکلیف نه دی را رسیدلی خو چیري چي زما اړتیا تر تاسو ډیره لیدل کیږي نو بیا زه هلته ځم،

اشرف خان وویل: زه پوه نسوم علي؟

علي وویل: بیابه پر کراره بحث وکو خان صاحب،

اشرف خان وویل: سمده علي خو واخله دا خالي چیک چي هر څومره پیسې پکښې لیکي ویلیکه زه به یي در امضاء کم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي د اشرف خان څخه چيک واخيستی او شل لکه يي پکښي وليکلې او تر څنګ يي يو خط هم وليکی او دواړه يي د خط په يو پاکټ کي واچول،

محيب په کتاب لوستلو مصروف وو چي کوچنی لور يي ورته راغلل او ويويل: بابا بابا ماته يو جوړه نوې کالي او بوټونه راوړه چي کله بازار ته ولاړ سي،

محيب وويل: سمده لورکۍ چي معاش مي راووځي درته رابه يي وړم،

لور يي وويل: بابا زه يي سبا غواړم،

محيب وويل: خو اوس پيسې نسته راسره لورکۍ،

لور يي وويل: سمده بابا چي پيسې دي پيدا کړي بيا يي راته رانيسه،

محيب وويل: سمده زما ګرانې شهزادګۍ،

د محيب لور ولاړل او محيب کتاب کښيښوی او خپل اطاق ته د مخ پريولو لپاره ولاړې کله چي د اطاق څخه راووتی نو د مخ وچولو پر وخت يي پر ميز پاکټ ته پام سو کله چي يي را واخيستی او خلاص يي کی نو ويليدل چي يو د شلو لکو چيک او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل خط پکښې پروت وو محیب ډیر حیران سو کله یي چي خط خلاص کی او ویوایه نو تر ستړگو یي اوښکې روانې سوې او خط یي مچ(ښکُل) کی او بیا یي خپل مور ته ور ناره کړه....،

قریشي او علي ماښام تر ډیره په دفتر کي ناست وه وروسته قریشي وویل: علي ناوخته کیږي ته څه وخت ځي کور ته؟

علي وویل: وختې دی ولاړ به سم،

قریشي وویل: تاسو به د خان صاحب سره اوسیږی علي؟

علي وویل: بلي هو،

قریشي وویل: د صاحب کور خو ډیر لیري دی نو ته څنگه ځي موټر هم نلري؟

علي وویل: زه تللای سم،

قریشي وویل: زما کور دلته په ښار کي دی نن زما سره پاته سه،

علي وویل: نه مننه نیت مي دی چي نن به خپل اصلي کور ته ولاړ سم،

قریشي وویل: د اصلي کور څخه دي مطلب،

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي وويل: چيري چي يوازې زه اوسيږم،

قريشي وويل: نو تاسو بل کوم خپل نلرى چي ور سره و اوسيږي،

علي موسکى سو بيا يي وويل: قريشي تاسو بيخې ډيرې پوښتنې کوی،

قريشي هم موسکى سو او ويويل: بخښنه غواړم علي،

علي وويل: شپه ناوخته سوه تاسو ورسى دفتر بيا زه قلفوم وروسته پسي درځم،

قريشي د علي څخه خداى په امانى واخيستئ او د دفتره څخه ووتى په لاره کي قريشي د يو مارکيټ مخته موټر ودروى او د کور لپاره يي سوداوې راواخيستې کله چي يي سودا پوره سوه نو بيرته موټر ته راغلى او روان سو په لاره کي يي ميرمنې زنګ ور ته راووهلى او ورته ويويل: سړيه هغه د کوچنيانو شيدې دي هيرې نسي،

قريشي وويل: را اخيستې مي دي،

ميرمنې يي وويل: او هغه زما سينګار شيان دي هم هير نسې،

قريشي وخندل او ويويل: هغه مي اول راواخيستل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



قریشي او میرمن یي په باندار اخته وه چي په دې وخت کي د قریشي سترګې لیري پر یو نفر ولګیدلې چي د سړک تر څنګ روان وو قریشي فکر وکی چي علي دی خو هر څومره چي ورنیږدي کیدی نو قریشي مطمئن کیدی چي دا علي دی کله چي قریشي ور رسیدی هغه نفر راسته لاس ته په یو غټه دروازه ننوتی، قریشي چي کله هغه ځای ته ور ورسیدی نو د هغه ځای د دروازې پر سر لویه لوحه وه چي قبریستان پر لیکی وو قریشي ډیر حیران سو بیا یي میرمنې ته وویل: زهرا بیا وروسته خبرې کوو،

قریشي تلیفون بند کی او د قبریستان مخته ودریدی او د موټر څخه راکښته سو کله چي د قبریستان خواته ورغلی دروازه یي خلاصه کړل او دننه ور ننوتی چي وویني چي دننه چي ولاړی دا نفر څوک وو او دلته څه کوي، قریشي په قبریستان کي شاوخوا ګرځیدی شاوخوا یي کتل د قبریستان په ځینو ځایو کي توره تیاره او د کاغیو او ځینو نورو حیواناتو ږغونه وه خو هیڅوک نه معلومیدل قریشي د قبریستان تر منځه راغلی وو غوښتل یي چي بیرته ووځي ځکه څوک نه وه قریشي فکر وکی چي شاید زما سترګو اشتباه کړي وي کله چي بیرته د قبریستان د دروازې پر طرف روان سو نو یو دم یي د یو قبر د شناختې پر ډبرې سترګې ولګیدلې د هغه په لیدو د قریشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدن په ریږدیدو سو د پښو او بدن حرکت یي د لاسه ورکی غوښتل یې چي د دروازې پر طرف وځغلي خو د شا له طرفه یو چا ونیوی قریشي لویه چغه وکړه،

سهار اشرف خان او کورنۍ یي د کور د بام پر سر ناشته کول چي څو شیبې وروسته اشرف خان د بدن د حرکت لپاره ولاړ سو او شاوخوا گرځیدی چي لیري یي پر علي سترگې ولگیدي چي د کور پر طرف را روان وو علي پر لاره د کلیوالو سره په موسکا مرسته او همکارې کول هر کلیوال چي به علي لیدی نو د روغبړ لپاره به یي هغه ته مخته ور ځغستل اشرف خان ددي په لیدو موسکی سو او د علي سره د کلیوالو مینې ډیر خوند ورکی او ډیر خوشحاله سو کله چي علي کلاء ته راغلی نو اشرف خان خدمتگار ته وویل: ورسه علي ته ووایه چي لوړ راسه،

څو شیبې وروسته علي لوړ بام ته راپورته سو او د ټولو سره یي روغبړ وکی بیا اشرف خان ورته وویل: علي هسي نه دا کلیوال تا ددې کلې مشر وټاکې،

علي موسکی سو بیا یي وویل: ولي خان صاحب؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان وویل: ته چي هلته پر لارې را روان وې ما درته کتل چي کلیوال دې په لیدو ډېر خوشحاله کیدل د هغو مینه چي مي ستا سره ولیدل نو ځکه مي وویل چي دا خلک به تا ددې کلې مشر وټاکي نن سبا دې په ټول کلې کي ډېر صفتونه کیږي،

علي موسکی سو بیا یي وویل: نه خان صاحب ددې کلې خلک خپله ښه خلک دي نو ځکه زما صفت کوې او بل دا چي تر ما تاسو ډېر څه ددې کلې لپاره کړیدي ددې کلې د مشرتوب حق یوازې تاسو لری،

اشرف خان او علي وروسته پر خپل کاروبار خبرې شروع کړي علي د اشرف خان د کاروبار لپاره ډېر ښه ښه کامیاب پلانونه اشرف خان ته وړاندې کړل اشرف خان د پلانو په اوریدو ډېر خوشحاله سو د خبرو په جریان کي د اشرف خان تلیفون ته زنگ راغلی کله چي اشرف خان تلیفون ته جواب ورکی نو مخ یي بل ډول سو او په حیرانۍ یي وویل: څه!؟،

کله چي تلیفون بند سو نو علي وویل: څه وسوه خان صاحب خیریت خو به وي د چا تلیفون وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان وویل: د دفتر څخه تلیفون وو ویل قریشي د تیر ماښام راهیسي ورک دی هیڅ درک یي نسته،

علي ډیر حیران سو بیا یي وویل: څه قریشي ورک دی خو ماښام تر ناوخته پورې زما سره وو بیا ما ورته وویل چي ته ولاړ سه زه وروسته ځم دی ولاړی او زه په دفتر کي پاته سوم،

اشرف خان ډیر حیران وو بیا یي وویل: قریشي د ډیر وخت څخه زما سره راسره دی ډیر ښه ځوان دی چاته یي بد نه دي ور رسولې،

علي وویل: زه مطمئن یم چي قریشي به خپل کور ته بیرته سلامت راځي،

ورځې او شپې تیریدې یو ورځ اشرف خان علي ته وویل: علي د کله چي ته زما سره یو ځای سوی یي د هغه راهیسې سردار خان زما سره بیا شخړه نه ده کړي لکه چي ډیر دي د سختې ګوتې نیولی دی؟

علي وویل: نه خان صاحب سردار خان اوس هم غواړې تا تر پښو واچوې هغه کوښښ کوي چي ستا کمزورې پیدا کي او هغه اوس ستا کمزوریو ته ډیر نیږدي سویدی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان حیران سو بیا یي وویل: څنګه کمزورې زه پوه نسوم علي؟

علي وویل: خان صاحب ته دومره په کاروبار کي مصروفه يې چي خپل کورنۍ دې د یاده ایستلې ده تا دا هم هیر کړیدي چي ته یو لور هم لري،

اشرف خان ډیر حیران سو بیا یي وویل: ولي څه خبره ده علي زما لور څه کړیدي؟

علي وویل: دا خو باید تاته معلومه وای چي ستا لور څه څه کوي؟

اشرف خان وویل: هغې خو په ښار کي پوهنتون وایه،

علي وویل: ایا تاسو په دي خبر یاست چي هغې په پوهنتون کي د چا چا سره لیدل او چیري چیري تله یا تاسو دا خبر نه اخیستی که مو اخیستیلای نو تاسو به په دي هم خبر وای چي په هغه ورځ چي ستا لور په رود کي غرقیدل په هغه ورځ دا په رخصتۍ ستاسو بیله اجازې تللې وه،

اشرف خان وویل: علي هر څه واضح ووایه چي څه خبره ده ستاسو د خبرو مطلب څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي وويل: ورسه د هغې څخه يي وپوښته،

اشرف خان ډير پريشانه سو بيا يي علي ته وويل: زما سره راځه!

کله چي علي ور سره روان سو نو اشرف خان د مسکان اطاق ته ورغلی او هغې ته يي وويل: مسکان لورې تا په پوهنتون کي د چا چا سره ليدل؟

مسکان حيرانه سوه چي څه پيښه سويده نو يي وويل: ولې څه خبره ده بابا؟

اشرف خان په غوسه وويل: زما په پوښتنه کي پوښتنه مکوه زما د سوال جواب راکه !

مسکان وويل: زما د پوهنتون همصنفيانې او زما ځنې نورې ملګرې وې چي ما به کله کله ور سره ليدل،

اشرف خان وويل: بل دي د هيچا سره نه ليدل؟

مسکان وويل: يا بابا،

اشرف خان علي ته مخ ور واړوی بيا علي و مسکان ته وويل: هر ماښام تا پر پنځه بجې د چا سره ليدل د ليليې شاته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکان ډیره وارخطاء سول او بدن یي په ریږدیدو سو په ریږدیدلې اواز یي وویل: د هیبیچا سره مي ننننه لیدل،

اشرف خان چي کله مسکان وارخطاء ولیدل نو پوه سو چي کمه خبره سته نو ډیر په غوسه سو او مسکان ته یي ډیر په غوسه وویل: رښتیا رښتیا راته ووایه چي د چا سره دي لیدل؟

مسکان ډیره وبیریدل نو ځکه یي رښتیا وویل: هغه د سردار خان د زوی کامران سره،

اشرف خان نور هم ډیر په قهر سو او مسکان یي ټینګه چپلاخه(څپیړه) پر مخ ووهل او ورته ویویل: افرین دې سي دربادنې د پلار د دوښمن د زوی سره دي مینه شروع کړه راته تا د هغه سره مینه نه بلکې د پلار عزت دي پر خرڅ کی او د خپل پلار عزت او سر دي د هغه د پلار په پښو کي ور وغورځوی،

د مسکان تر سترګو اوښکې رواني سوې بیا اشرف خان وویل:دا زما غلطې ده چي ته مي هلته یوازې او بیله څاره ایله کړې وې ما پر تا باور کړی وو چي زما لور به زما عزت هیڅکله پایماله نکي هغه د نورو انجونو څخه جلا ده خو نه وم خبر چي هغه لور به مي عزت لیلام کي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي وويل:مسکان کامران ستا سره مینه نکوې بلکې هغه غواړې چې ستا پواسیطه ستا د پلار عزت خپل پلار ته ډالۍ کي بیابه ستا په وهلو او ډبولو ستا پلار شیبه په شیبه وژنې،

اشرف خان وویل: نه پوهیږم کمه گناه مي کړي وه چې داسي لور خدای راکړه چې سر مي په لوړ نسو خو کښته سو،

کله چې اشرف خان دا خبرې کولې نو په دي وخت کي د مسکان تلیفون ته د کامران زنګ راغلی اشرف خان د مسکان د لاسه تلیفون واخیستی چې ویلیدل چې د کامران زنګ وو نو تلیفون یي د قهره د مځکې وویشتی او مات یي کی او ویویل: د نن څخه ستا دباندې وتل تلیفون او هر څه بند دي،

اشرف خان دا وویل او د مسکان د اطاقه څخه ووتی او د مسکان د اطاق دروازې ته یي قلف ور واچوی نیرجلاء وویل: څه خبره ده سړیه ولي داسي په قهر یي؟

اشرف خان وویل: ورسه د هغې لور څخه دي یي وپوښته چې د پلار عزت یي د هغه د دوښمن سردار خان په پښو کي ور وغورځوی د هغه د زوی سره مینه راته کوي دا خو ښه سو چې علي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خبر کړم که نه نو خدای خبر چي سردار خان به څه څه را کړي وای،

نیرجلاء ډیره حیرانه سوه بیا یي وویل: ما نه درته ویل چي دا انجلۍ یوازې مه ایله کوه خو تا به ویل چي یا زما لور د نورو انجونو پڅیر نه ده زما لور داسي ده و هاسي ده اوس دي نتیجه ولیدل،

اشرف خان په دفتر کي په دي خبره ټوله ورځ پریشانه وو چي د هغه لور د هغه د دوښمن د زوی سره مینه کوې علي به کله کله د اشرف خان پام بلي موضوع ته وګرځوی تر څو اشرف خان تشویش ونکي کله چي ماښام سو نو اشرف خان او علي د کور پر طرف روان سول کله چي کور ته ورسیدل نو په کور کي ټول ډیر پریشانه وه اشرف خان وویل: څه خبره ده ولي داسي پریشانه یاست؟

نیرجلاء وویل: سرېه مسکان په کور کي نسته هغه د کوره وتلې ده،

اشرف خان ډیر حیران سو او ډیر په قهر سو کور ته ننوتی او توپک یي را واخیستی او ویویل: نن خو د سردار خان هیڅوک نه ور پریږدم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ټولو ونیوی اشرف خان ټول د ځان څخه لیري کړل او د کوره څخه راووتی کله چي علي ته ور نیږدي سو نو علي ونیوی او ورته ویویل: ودرېږه خان صاحب!،

اشرف خان وویل: علي ما پرېږده نن به یا زه وژل کیږم یا سردار خان،

علي وویل: یو وار زما خبره واوره بیا چي هر څه کوې ویکه،

اشرف خان ودریدی او علي ته یي وویل: ښه وایه،

علي وویل: که ته په سردار خان او زوی یي یو چم وکي نو ستا د لور په زړه کي به تاته تل نفرط وي او هغه به ستا څخه تل همداسي تښتي ما خو هم همدا غوښتل چي مسکان د دوی کور ته ورسي ځکه چي هلته به دا د زوی او پلار په هدف خبره سي،

اشرف خان وویل: خو علي هغه... ،

علي وویل: خان صاحب په ما باور ولره ستا په لور به هیڅ هم نکیږي او هیڅوک به هلته نه ورځی سبا ته مسکان زه خپله راولم،

اشرف خان بیرته کور ته وګرځیدی او توپک یي وغورځوی، مسکان د سردار خان په کور کي وه سردار خان ډیر خوشحاله وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي د سردار خان زوی کامران د مسکان سره د بانډار څخه فارغه سو نو دباندې راووتی او په مسکان پسي يي دروازه را وتړل سردار خان خپل زوی ته وويل: افرين زويه تا زما سر را لوړ کی......، سردار خان او زوی يي په خبرو سره اخته وه او مسکان په اطاق کي ناسته وه چي په دي وخت کي د اطاق دروازه باد ووهل څه اندازه خلاصه سوه مسکان فکر وکی چي کوم چا راپورې وهل نو ځکه ور ولاړه سوه چي وګوري څوک دی کله چي دروازې ته ور ورسيدل نو ويکتل هيڅوک نه وه ټول دباندي ناست وه، مسکان کرار کرار په زينو کي راکښته سول او د دباندې بانډار ته يي غوږ ونيوی ټول ډير خوشحاله معلوميدل بيا سردار خان وويل: اوس به د اشرف خان څخه د هرې بدۍ بدله اخلم هغه ته به د سپې پځير طوق ور واچوم او شاوخوا به يي په کلې کي را وګرځوم،

ددي خبرو په اوريدو د مسکان بدن په ريږديدو سو او ډيره وبيريدل بيا سردار خان کامران ته وويل: زويه ستا نقلې مينې ماته ډيره خوشحالې راپه نصيب کړل،

کامران وويل: دا هر څه خو مي ستا څخه زده کړيدي بابا چي مازې زه د مسکان سره واده وکم نو د هغې څخه به د کور مزدوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړه کم داسي بد حالت به باندې راولړ چي پلار يي په ليدو مړ سي،

د کامران د خبرو په اوريدو مسکان نوره هم وبيريدل او پوه سول چي کامران ددي سره مينه نه بلکې چم کړيدی او غوښتل يي چي ددي پواسيطه اشرف خان برباد کي مسکان ددي خبرو په اوريدو د بدن حرکت او سد د لاسه ورکړی وو او پر شا روانه سول چي په دي وخت کي يي لاس د کوم لوښې سره ومښتی او هغه پر مځکه ولويدی په دي سره ټول چپ سول او کامران ور وځغستل کله چي ور ورسيدی نو ويليدل چي مسکان هلته ولاړه وه،

کله چي سهار سو نو سردار خان چي د کور په مينځ کي ناست وو تليفون ته يي زنګ راغلی کله چي سردار خان جواب ورکی نو ډير په قهر پر ځای ودريدی او ويويل: دا ته څه وايي بي غيرته داسي نسي کيدای،

ټول ډير حيران سول چي څه وسول کامران رانيږدي سو او پلار ته يي وويل: څه خبره ده بابا؟

سردار خان د ډيره قهره کامران يو ټينګه چپلاخه پر دا مخ ووهلی بيا يي وويل: بي غيرته دا ټوله ستا د لاسه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کامران وویل: خو څه وسول بابا؟

سردار خان وویل: د هغه بې غیرته اشرف خان خواخوږي علي تیر ماښام زما د میلیون هاوو هیروینو ته اور ور اچولی دی ما ټوله سرمایه په هغو لګولې وه دا کور مي لا ورته په ګروې کړی وو زه برباد سوم تباه سوم،

په دي وخت کي د سردار خان د کور د دروازې څخه علي ور بږغ کړه او ویویل: سردار خانه ما نه وه درته ویلې چي نور سم سه او د اشرف خان د کورنیه لاس واخله خو تا زما خبره ونه منل زه پوهیدم چي ستا زوی به د اشرف خان کور ته ورځي او مسکان به د ځان سره راولي خو ما بس ستا بربادیدو ته بهانه لوټول نو ځکه مي ستا زوی نه راوګرځوی که نه ما به هلته پر هم هغه ځای ستا زوی در وژلی وای اوس په سمه درته وایم چي مسکان راپرېږده که نه تر دي به دي هم بدتر کم،

سردار خان وویل: داسي یي چیري در پریږدم چي اشرف خان زما ټول تاوان رانکي،

علي وویل: سردار خانه ته اشرف خان نه ما برباد کړی یي او زه تاته تاوان نسم درکولای ځکه ما ته دوه وارې خبر کړی وې چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان د کورنیه لاس واخله خو تا ونه منل دا ستا خپله غلطي ده نو تاوان به يي هم ته خپله مني او پاته خبره د مسکان سوه هغه خو به په هره ډول چي وي زه يي ددي ځايه بيايم ځکه ما يي د پلار سره وعده کړيده،

د سردار خان ورور چي ګوډ ګوډ هم کيدی سردار خان ته وويل: لالا هغه انجلۍ ور پريږده ددي هلک سره ځان مه اچوه که نه دا اوس چي روغ بدنونه او ژوند لرو دا به هم راباندي ودروي،

سردار خان هم وبيريدی نو ځکه يي خپل زوی ته وويل: ورسه هغه انجلۍ ور پريږده،

کامران هم مسکان د اطاق څخه راويستل او د علي پر طرف يي ور پريښوول کله چي مسکان علي ته راورسيدل نو سترګي يي د اوښکو ډکي وي او تر خولي يي وينه بهيدل، علي د مسکان د اوښکو او وينو په ليدو ډير په قهر سو بيا يي مسکان ته وويل: ايا ته دوی ووهلي؟

مسکان په ژړا سر وښوروی چي هو بيا علي وويل: کم يوه ووهلي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکان د سردار خان زوی کامران ته لاس ونیوی، علي مسکان ته وویل: دباندې موټر ولاړ دی په هغه کي کښينه زه درځم تر شاه مه ګوره،

مسکان د موټر پر خوا روانه سول او علي د کامران پر خوا ور روان سو کامران او د سردار خان نور کسان يي ډير زيات ور ووهل کله چي کامران تر مرګه ورسيدی نو سردار خان علي ته وويل: هيله کوم زويه پري ايږده زما داغه يو زوی دی،

علي کامران پريښوی بيا علي سردار خان ته وويل: لعنت پر داسي نارينه چي پر يوې مظلومې لاس پورته کوي دا ښځګه نارينتوب دی تر داسي نارينه خو يو حيوان لا ښه دی لږ تر لږه تر ځان په کمزورې خو لاس نه پورته کوي،

علي دا خبرې وکړي وروسته د سردار خان د کوره ووتی او په موټر کي کښينستی او روان سو د مسکان تر سترګو اوښکې رواني وې بيا يي وويل: علي ما کور ته مه بيايه زه نور په هغه کور کي هيڅ حق نلرم ما مي د پلار عزت د خاورو سره ور خاورې کی زه به په کم مخ د بابا سره مخ کيږم هيله کوم علي ما کور ته مه بيايه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي وویل: مسکان چي تاته د خپلې غلطۍ احساس وسو همدا کفایت کوي ښه وو چي ته مخکې د پلار او زوی په چم خبره سوې که نه نو ټول ژوند به دې لاسونه مښلای چي دا په څه غضب اخته سوم چي تیر سوه هغه به هیر کو زه خان صاحب پوه کوم،

څو شیبې وروسته مسکان او علي کور ته را ورسیدل د کورنۍ ټول غړي د هغو مخته راغلل مسکان زړه نسوای کولای چي د موټر څخه راکښته سي د پلار څخه بیریدل خو څو شیبې وروسته علي د موټر دروازه ور خلاصه کړل مسکان ته یي خپل لاس ونیوی مسکان هم خپل لاس د علي په لاس کي ورکی کله چي مسکان خپل لاس د علي په لاس کي ورکی نو د مسکان ټوله بیره ختمه سول او د راحت احساس یي وکی علي مسکان تر لاس ونیول او د موټر څخه یي راکښته کړل چي په دي وخت کي یي پلار مخته راغلی چي ډیر په قهر وو، علي اشرف خان ته وویل: خان صاحب مسکان چي کومه غلطې کړي وه د هغه سزا دې ولیدل هیله کوم کیسه نوره پر همدې ځای ختمه کی،

اشرف خان چي کله د مسکان پر خوله وینې ولیدي نو قهر یي کم سو او وروسته ولاړی علي د مسکان مور نیرجلاء ته وویل: خاله مسکان خپل اطاق ته بوځه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکان خپل اطاق ته ولاړل علي د اشرف خان پر خوا ورغلی اشرف خان په تليفون کي مصروفه وو کله چي يي تليفون کاټ کی نو په حيرانۍ يي علي ته وويل: علي تا د سردار خان مالونه ټول ور وسوځول د مسکان په خاطر؟

علي وويل: بلي هو د مسکان په خاطر هم او د غيري قانوني او تاواني کاروبار په خاطر هم ځکه چي د سردار خان د لاسه ډير ځوانان په نشو روږدي سويدي او د هغو په زياتوب کي پرمختګ روان دی،

اشرف خان وويل: او علي خبر سوم چي تا د هغه زوی هم ډير سخت ور وهلی دی؟

علي وويل: هو خو هغه پر مسکان لاس پورته کړی وو کله چي ما د مسکان پر مخ وينه وليدل نو بس عصابو مي کار پريښوی لاسونه مي هم نه راګرځيدل ما خو هغه نه پريښوی خو سردار خان وويل چي دا زما يوازينی زوی دی،

اشرف خان څو شيبې علي ته کتل او بيا يي وويل: علي نه پوهيږم ته له کمه راغلي دومره ښه خو يو نيږدي خپل هم له چا سره نکوي لکه تا چي زموږ سره وکړل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي وويل: خان صاحب تاسو په دي خبرو ما پردی کوی او بل دا چي دا زما مسؤلیت دی الله زه د همدې لپاره را استولی یم او د همدې لپاره مي د الله څخه دنیا ته د بیا راتلو اجازه اخیستې ده،

اشرف خان حیران سو بیا یي وویل: د بیا راتلو؟ زه پوه نسوم علي،

علي تر څه ځنډ وروسته وویل: ته دا پریږده خان صاحب اوس د مسکان لپاره د یو ښه هلک په لټه کي سه چي دا تل خوشحاله او د هره غمه ډیره لیري وساتي چي مسکان ته د نړۍ ټولي خوشحالۍ ورکړي،

علي تر څه بحث وروسته ولاړ سو چي په دي وخت کي نیرجلاء چای هم را اخیستي وې او علي ته یي وویل: علي چیري ځي کښېنه چای وڅښه سترې سوی به یي،

اشرف خان وویل: علي به بیا د چا د مرستې لپاره ځي دی خو تل د نورو سره په مرسته مصروف وي،

علي موسکی سو بیا یي وویل: هغه خاله د کلي څو ځوانانو نن میلمستیا او باندار جوړ کړیدی او زه یي ور غوښتی یم زه خو ددي میلمستیاوو او باندارو سره نه یم جوړ خو دا چي د کلي د ځوانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مات نسي نو په همدې خاطر ورځم تاسو او خان صاحب چای وڅیښي بیابه یي ماښام یو ځای وڅیښو،

نیرجلاء وویل: اسمده علي زویه چي څنګه ستا خوښه وي،

وروسته علي د اشرف خان او میرمني څخه یي خدای په امانۍ واخیستی او ولاړی، اشرف خان علي ته کتل چي هغه روان وو او د ځان سره موسکی کیدی نیرجلاء هم موسکی سوه بیا یي وویل: فکر کوم ستا په زړه کي هم هغه خبره ده کوم چي زما په زړه کي ده،

اشرف خان په موسکا وویل: ستا په زړه کي څه خبره ده ګراني؟

نیرجلاء وویل: داغه چي زموږ د لور لپاره به تر علي بل کم ښه هلک وي چي ور په نکاح یي کو،

اشرف خان موسکی سو بیا یي وویل: زما په زړه کي هم همدا خبره وه ګراني خو یوي خبرې ته پریشانه سوم،

نیرجلاء وویل: څه ته؟

اشرف خان وویل: د داسي انجلۍ سره به څوک واده وکي چي د کوره تښتیدلي وي په داسي حال کي هم چي علي یي په ټوله کیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبر دی که اوس نه وای په خبر خو یو بهانه به مو ورته کړی وای چي د خپلوانو کره تللي وه یا یو بل ځای میلمه وه خو دا بدبخته خپله علي د هغه کوره راوستل چیري چي دا ور تښتیدلي وه،

نیرجلاء وویل: علي خو زموږ د زوی پخیر دی هغه به زموږ غوښتنه حتماً مني بابیزه به یي نه ګنې ته ورته ووایه،

اشرف خان وویل: ښځې زه ځني شرمیږم بیا خو زموږ په کلتور کي باید د هلک لخوا د انجلۍ د غوښتلو لپاره مرکه وسي،

نیرجلاء وویل: سړیه کله چي به د اصحابو کرامو لونې لویانې سوې ایا هغو به یو چاته د ورکولو لپاره رسول الله ﷺ ته نه راتلل؟ چي هغو سترو صحابوو په دي کار کي شرم نه دی کړی نو موږ یي ولي وکو او بل موږ ته اول دین او بیا کلتور ارزښت لري چي دین نه یو منعه کړي نو بیا ولي دا کار ونکو،

اشرف خان وویل: ته خو ښه وایي ښځې ته خو پوهیږي چي ماته څوک نه ووایي نو زه ډیر په غوسه کیږم داسي نه علي نه راته ووایي او زه هغه ته په غوسه سم او په غوسه کي بد و رد ورته ووایم او هغه موږ پریږدي او راځخه ولاړ سي خیر یو میاشت به صبر ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکو شاید د دوی دوو ترمنځ خپله مینه پیدا سي که تر یوي میاشتې وروسته یي مینه نسوه پیدا نو بیابه ورته ووایو،

نیرجلاء وویل:صحي دی چي ځنګه ستا خوښه وي،

کله چي علي د کوره ووتی او پر لار روان وو نو مسکان د خپل اطاق څخه ورته کتل او د علي په لیدو به موسکۍ کیدل د مسکان په زړه کي د علي لپاره مینه پیدا سوې وه خو زړه یي نسوای کولای چي ورته ووایي او د موقع په لټه کي وه چي علي ته ددې سره د واده کولو ورته ووایي خو علي د مسکان څخه لیري لیري ګرځیدی، یوه شپه علي څه ناوخته راغلی کورته ټول بیده سوې وه خو مسکان د علي په انتظار د کور په پارک کي ناسته وه تر ډیر انتظار وروسته مسکان په چوکۍ کي بیده سوې وه تر څو شیبو وروسته د مسکان چوکۍ وښوریدل په دي سره مسکان یو دم راکښینستل ډیره وبیریدل او پر خپل ځای ودریدل او اوږدې اوږدې ساوې یي کښلې تر څو شیبو وروسته څه ارامه سوه کله چي یي د علي اطاق ته وکتل نو د اطاق ګروف لګیدی او رڼا وه مسکان پوه سوه چي علي راغلی دی نو د هغه د اطاق خواته ور روانه سول خو کله چي مسکان ور روانیدل نو ګروف بند سو مسکان ودریدل او فکر یي وکی چي علي بیده سو نو غوښتل یي چي خپل اطاق ته ولاړه سي خو کله چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل اطاق پر خوا روانه سول نو د علي د اطاق گروف بيا ولگيدی مسکان بيا ودريدل او غوښتل يي بيا د علي اطاق ته ور وگرځي خو کله چي ور وگرځيدل نو د اطاق گروف بيا بند سو مسکان يو وار بيا ودريدل او تر څو شيبو وروسته يي بيا غوښتل چي خپل اطاق ته ولاړه سي خو د علي د اطاق گروف بيا ولگيدی، مسکان په دي سره ډيره حيرانه سول بيا يي فکر وکی چي علي ددې سره ټوکې کوې نو ځکه د علي د اطاق پر خوا ور روانه سول په دي سره بيا د علي د اطاق گروف بند سو، کله چي مسکان ور ورسيدل نو د علي د اطاق دروازه يي خلاصه کړل گوري چي توره تاريکه وه مسکان وويل: علي؟

خو چا ږغ ونکی مسکان بيا وويل: علي؟

خو بيا هم چا ږغ ونکی مسکان بيا وويل: علي زه پوهيږم ته زما سره ټوکې کوې،

خو بيا هم په اطاق کي چوپتيا وه مسکان اطاق ته دننه ورغلل او د اطاق گروف يي ولگوی کله چي يي شاوخوا وکتل اطاق کي نو هلته هيڅوک نه وه په دي سره د مسکان بدن په ريږديدو سو او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې وخت کي د اطاق د ګروف د بڼېن د بنديدو ږغ سو او ګروف بند سو په دې سره مسکان يو لويه چغه وکړه چي بابا؟

د مسکان په چغه سره د کور ټول غړې راکښينستل او ټول دباندي راووتل اول يي د مسکان په اطاق کي وکتل خو مسکان هلته نه وه بيا ټول دباندې راووتل شاوخوا يي وکتل او د مسکان مسکان نارې يي وهلي چي په دي وخت کي يو خدمتګار په زوره وويل: خان صاحب!!

ټولو د علي د اطاق خواته وکتل او بيا ټول ورغلل کله چي د علي اطاق ته ور ورسيدل نو ويليدل چي مسکان د علي په اطاق کي بې هوښه پرته وه،اشرف خان ژر د مسکان پر مخ اوبه ور واچولي تر څو شيبو وروسته مسکان په هوښ کي راغلل او بيا اشرف خان خپل اطاق ته بوتله، کله چي مسکان څه ارامه سوه نو پلار يي ورته وويل: څه خبره وه لورې؟

مسکان وويل: زه په پارک کي ناسته وم خو څو شيبې وروسته پر هم هغه ځای بيده سوې وم زه بيده وم چي يو دم مي چوکۍ چي زه پر بيده سوې وم يو چا وښورول په دي سره زه راکښينستم خو چي ومي کتل هيڅوک نه وه خو د علي د اطاق ګروف لګيدی ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر وکی چي علي راغلی دی نو ځکه مي وغوښتل چي ورسم او پوښتنه ځني وکم چي ایا هغه ډوډۍ خوړلي ده که نه خو چي زه د علي د اطاق خواته ور روانه سوم نو د علي د اطاق گروف بند سو ما فکر وکی چي علي به بیده سوی وي نو بیرته راوگرځیدم خو چي راگرځیدم نو بیا د علي د اطاق گروف ولگیدی زه بیا ور روانه سوم خو گروف بیا بند سو.... ما فکر کوی چي علي ما ویني او ټوکې راسره کوي خو چي کله ورغلم نو هلته توره تاریکه وه ما چي کله گروف ولگوی نو د علي په اطاق کي هیڅوک نه وه خو څو شیبې وروسته یو لاس ما ولیدی چي د اطاق گروف یي بند کی خو نفر نه معلومیدی صرف یي لاس وو !

اشرف خان ډیر حیران سو بیا یي وویل: څه؟!

مسکان وویل: هو بابا هغه لاس ما خپله ولیدی چي گروف یي بند کی زما د خولي لویه چغه ووتل او تر دي وروسته نوره په ځان نه یم پوه سوې،

د مسکان د خبرو په اوریدو ټول ډیر پریشانه سول د مسکان د مخ بڼه هم اوښتې وه کله چي اشرف خان د مسکان پر تندې لاس ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیوی نو حس یي کړه چي د مسکان سخته تبه ده اشرف خان ډېر پریشانه سو، نیرجلاء وویل: څه خبره ده سړیه؟

اشرف خان وویل: د مسکان سخته تبه ده شپه هم ناوخته ده شاید ډاکټران ټول بیده وي نه پوهیږم څه وکم؟

کله چي د مسکان کیسه تر همدي ځایه راورسیدل نو بیا یي روحیلې او د روحیلې کلیوالو ته وویل: زه مطمئینه یم چي په هغه ورځ ناروغه زه وم خو سختۍ پر علي تیریدلي،

روحیلې وویل: هغه څنګه؟

مسکان وویل: په هغه شپه زما پلار اشرف خان او کورنۍ مي لا هم په داغه تشویش کي وه چي په دي وخت کي په کور کي د موټر ږغ سو کله چي زما کورنۍ وکتل نو هغه ډاکټر وو کله چي ډاکټر کورته راغلی نو زما پلار او کورنۍ مي ډېر حیران سول بیا زما پلار وویل: په دا نیمه شپه ډاکټر صاحب تاسو؟

ډاکټر وویل: اشرف خانه خو تاسو تلیفون راته کړی وو چي زما لور ډېره ناروغه ده کورته ژر راسه دا دی زه هم راغلم،

اشرف خان وویل: ما خو تلیفون نه وو درته کړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر وویل: عجبه ده اشرف خانه خو ستا نمبر وو ستا اواز وو نو ځنګه تا تلیفون نه دی راکړی؟

اشرف خان او ټوله کورنۍ یي ډیر حیران سول بیا اشرف خان وویل: هر چا چي درته کړیدی ډیر ښه یي کړیدي تاسو بیخې پر ښه وخت راغلاست راځی مهرباني،

بیا مسکان کلیوالو او روحیلې ته وویل: په هغه ورځ علي و ډاکټر ته زما د پلار په تلیفون او اواز زنګ ور وهلی وو چي زما درملنه وسي،

روحیلې وویل: هغه ځنګه؟ او علي په دي ځنګه خبر سو چي ته بیریدلې یي او ناروغه یي؟

مسکان بیا خپله کیسه شروع کړل او ویویل: کله چي ډاکټر ماته دوا راکړل نو زه یو څه جوړه سوم خو د سهار په وخت کي مي بیا ډیره سخته تبه سوه مور او پلار مي ډیر پریشانه وه کله چي سهار سو نو مور او پلار مي پریکړه وکړه چي ما به د پیر صاحب د زیارت ملنګ ته بیایي همدا وو چي موږ د پیر صاحب د زیارت پر خوا روان سولو د پیر صاحب زیارت زموږ څخه یو څه زیات لیري وو پر لارې موږ په ډیري سختۍ سره هلته ورسیدلو ځکه چي پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې به یو ځل موټر خراب سو بیا به یې ټایرونه خراب سول.....
دا ځکه داسې کیدل چې هلته موږ په یو راز خبریدلو خو خیر کله
چې موږ هلته ورسیدلو نو زما پلار د ملنګ بابا د یو مُرید څخه
پوښتنه وکړه چې ملنګ بابا چیرې دی؟

د ملنګ بابا مُرید وویل: ملنګ بابا دا څو شیبې مخکې ولاړی د
ښار خواته یو ځوان راغلی او ملنګ بابا ته یې وویل چې ستا زوی
په بازار کې ټکر کړیدی نو ملنګ بابا هلته ورغلی،

اشرف خان وویل: نو څه وخت به راسي؟

مُرید وویل: نه پوهیږم شاید ژر رانسي خو تاسو دلته انتظار سی
ممکین راسي،

اشرف خان او نیرجلاء ډیر پریشانه سول چې دا بیا څنګه پیښه
سوه چې بله ورځ ملنګ بابا نه تلی نن چې زموږ پکار سو ولاړی،
خو دوی هلته ملنګ بابا ته په تمه سول ساعتونه تیر سول خو د
ملنګ بابا درک نسو معلوم لمر خپلې شغلې او وړانګې سره ټولولې
او مخ پر زوال روان وو نیرجلاء و اشرف خان ته وویل: سړیه نن
به ولاړ سو بیابه سبا ورته راسو شپه کیږي بیا،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان وويل: رښتيا هم خو مسکان به نن شپه بيا د سختې تبې په تکليف وي،

نيرجلاء وويل: خير دی نن شپه به لا يو رکم تيره کړو بيابه سبا ورته راسو،

اشرف خان وويل: صحي دی درځی چي ځو نو!،

کله چي دوی روانيدل نو په دي وخت کي ملنګ بابا را ورسيدی تر روغبړ وروسته اشرف خان ورته وويل: ملنګ بابا ستاسو په زوی مي ډيره خوا بده سول چي ټکر يي کړيدی،

ملنګ بابا وويل: نه نه زوی مي ټکر نه وو کړی هغه رک روغ وو يو نااشنا ځوان راغلی ويل ستا زوی ټکر کړيدی خو هغه روغ جوړ وو هيڅ نه وه په سوي هغه ځوان ټوکې راسره کولي،

اشرف خان وويل: الله دي داسي ناپوه ځوانانو ته هدايت وکړي،

ملنګ بابا وويل: هو امين خو ښه سو زوی مي هم د ډير وخت وروسته وليدی زه د هغه ځوان څخه هيڅ نه يم خوابدی،

اشرف خان وويل: الله دي تاسو خوشحاله لري ملنګ بابا،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملنګ بابا وویل: مننه اشرف خانه خو تاسو دلته څه کوی خیریت وو؟

اشرف خان وویل: ملنګ بابا مسکان لور مي تیر ماښام په کور کي بیریدلي وه اوس ډیره سخته ناروغه ده،

ملنګ بابا مسکان ته وکتل او تر څو شیبو وروسته یي وویل: زما سره راځی!،

اشرف خان مسکان نیرجلاء او د مسکان دوه اکاګان په ملنګ بابا پسي روان سول، ملنګ بابا خپل دربار ته ننوتی او پر خپل تخت کښینستی او مسکان ته یي وویل: لورې دلته زما و مخته کښینه!

مسکان د ملنګ بابا مخته کښینستل، ملنګ بابا خپل غټ کتاب راواخیستی او خلاص یي کی، ملنګ بابا به یو وار مسکان ته وکتل او بیابه یي کتاب ته وکتل او کلمات به یي ویل، څو وارې یي همداسي وکړه وروسته یي کتاب بند کی او اشرف خان ته یي وویل: اشرف خانه ستاسو کور ته یو ارواح راغلي ده،

په دې سره ټول ډیر حیران او وارخطاء سول بیا ملنګ بابا وویل: وارخطاء کیږی مه ځکه چي هغه ارواح ستاسو په لور هیڅ نسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولاى هغه ډېره ارامه او بې ازاره ارواح ده دا ستاسو د لور چې سخته تبه ده دا د بيرې تبه ده هغه هيڅ نه دي په کړې،

د اشرف خان او کورنۍ يې زړونه څه نرم سول او بيا تر څو شيبو وروسته دوى د ملنګ بابا څخه رخصت واخيستى او د کور پر طرف روان سول، مسکان په موټر کې د دروازې خواته ناسته وه د موټر هنداره يې کښته کړې وه او يو لاس يې دباندې ځړولى وو او پر لارې يې ليرې ليرې ساحو ته کتل، مسکان په فکرو کې غرقه وه چې يو دم يې هغه لاس چې دباندې يې ځړولى وو يو چا پخپل لاس کې ونيوى په دې سره مسکان وغورځېدل او لويه ناره يې وکړه او د پلار په غېږ کې يې سر پټ کى په دې سره د مسکان اکا موټر ودروى اشرف خان د مسکان پر طرف وکتل او ويويل: څه خبره ده لورې؟

مسکان تر څو شيبو وروسته وويل: بابا زما لاس يو چا ونيوى،

اشرف خان و مسکان ته دلساېې ورکول او بيا يې ورته وويل راسه زما او د مور په مينځ کې دې کښينه وروسته اشرف  خان د موټره کښته سو د موټر دباندې يې شاوخوا وکتل او تر څو شيبو وروسته موټر ته پورته سو او روان سول تر يونيم ساعت مزل وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورته راورسیدل کله چي د موټره کښته سول نو ویلیدل چي د کور د ودانۍ په زینو کي علي ناست دی او د دوی په لیدو ولاړ سو ښه راغلاست یي ورته ووایه، مسکان د علي په لیدو په زړه کي خوشحاله سوه او څو شیبې یي د علي په سترګو کي خپلي سترګې ښخې کړي وې وروسته اشرف خان نیرجلاء ته وویل: نیرجلاء مسکان خپل اطاق ته ورسوه!،

مسکان او نیرجلاء ولاړل علي او اشرف خان یوازې پاته سول بیا علي اشرف خان ته وویل: سلطان کیسه راته وکړه په مسکان مي ډیره خوا بده سول خیر الله مهربانه دی هغه به هر څه سم کي تاسو فکر مه خرابوی خان صاحب،

د اشرف خان تر سترګو اوښکې روانې سوې بیا یي په ژړا وویل: علي مسکان زما یوه لور ده تر ځان هم ډیره راباندي ګرانه ده که په هغې څه وسوه نو زه به څه کوم؟

علي د اشرف خان لاس خپل پلاس کي ونیوی بیا یي ورته وویل: خان صاحب په مسکان به هیڅ نکیږي دا زما ستا سره وعده ده که خدای نکړه کوم مصیبت پر مسکان راتلی نو د هغه مصیبت مخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



به زه ځان ور واچوم زه الله د همدې لپاره را لیږلی یم چې ستاسو ساتنه وکم،

اشرف خان خپلې اوښکې پاکې کړې او بیا یې وویل: علي ملنګ بابا ویل چې زموږ په کور کې ارواح ده ته د ځان سره احتیاط کوه او ته به نور دننه زموږ سره اوسیږې،

علي موسکی سو بیا یې وویل: خان صاحب ارواح مرواح نسته مړه سوي خلک بیرته نه راځي او دا د هر چا په خبرو باور مکوی،

اشرف خان وویل: نه نه علي ملنګ بابا ډیر ستر ولي او پرهیزګاره سړی دی،

علي وویل: پوهیږم خان صاحب خو خبره داسې ده که ارواح وي هم هغه چاته ازار او تکلیف نسي ور رسولای دا د انسانانو بیره دوی په تکلیفوي اصل کې ارواح یې نه په تکلیفوي،

اشرف خان وویل: هو بلکل ملنګ بابا هم همداسې ویل،

شپه تیاره سوې وه اشرف خان د علي سره تر باندار وروسته لومړی د مسکان اطاق ته ورغلی او د مسکان د صیحت پوښتنه یې وکړه او بیا خپل اطاق ته ولاړی او بیده سو، شپه ډیره ناوخته سوې وه خو مسکان پر کټ همداسې روښې سترګې پرته وه خوب نه ورتلی څو شیبې وروسته مسکان د کټ څخه پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



سول او د کلکین خواته روانه سول کله چي يي په کلکين کي دباندي وکتل نو ويليدل چي علي د کور په پارک کي ناست دی او په کمپيوټر کي مصروف دی، مسکان د اطاق څخه ووتل او د علي پر طرف ور روانه سول کله چي علي ته ور ورسيدل نو علي ته يي سلامووايه علي د مسکان د سلام تر جواب وروسته وويل: اووه ته تر اوسه نه يي بيده سوې مريضه هم يي؟

مسکان وويل: خوب نه راتلی،

علي د چوکۍ يو اړخ مسکان ته ور ايله کی او ورته ويويل: راسه مهرباني کښينه،

مسکان هم د علي ترڅنګ کښينستل بيا علي وويل: مريضې دي اوس څنګه ده؟

مسکان وويل: اوس څه ناڅه سمه يم،

علي موسکی سو بيا يي وويل: نو تا زما په اطاق کی په نيمه شپه څه کول؟

مسکان وويل: زما طبعيت خراب وو چي ته چيري وي تر دومره ناوخته پوري،

علي وويل: د کله چي د خان صاحب مرستيال تللی دی د هغې ورځې راهيسي مي په دفتر کي کارونه ډير زيات سويدې نو ځکه کله کله هلته پاته سم خو ته زما په اړه هيڅ انديښنه مکوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکان وويل: نه نه علي زيات کارونه مکوه صيحت ته دي په تاوان تماميږي زه سبا بابا ته هم وايم چي تا د زياتو کارو څخه منعه کي،

علي وويل: نه خان صاحب خو ما نه مجبوره کوي چي زه بايد زيات کار وکم خو د خان صاحب کمپنۍ د څو مياشتود پاره سخت کار ته ضرورت لري تر هغه وروسته به تر کلونو کلونو پوري په ډير لوړ معيار او په پرمختګ کي رواني وي غواړم ژر دا کارونه سرته ورسوم معلومه نه ده چي تر څه وخته به زه همدلته يم نه غواړم کارونه نيمګړي پريږدم،

مسکان وويل: علي ته ځي؟

علي وويل: نو څه کوم دا خو مي د پلار کور نه دی چي تل به پکښي اوسيږم،

مسکان وويل: نو ولي موږ ستا هيڅ نه يو؟

علي موسکی سو او بيا يي وويل: نه نه داسي خبره نه ده خبره داسي ده چي زه د ځان واک نلرم چي چيري ولاړ سم يا نه چيري څومره و اوسيږم که مي په واک کي وای نو ما به تاسو هيڅکله نه وای پري ايښي کاش چي ما کولای سوای چي دلته پاته سوی وای،

علي مسکی سو او بيا يي وويل: خو کيدای سي چي ستا تر واده پوري همدلته يم،

مسکان څه خپه غوندي سوه بيا علي وويل: څه وسوه؟

مسکان په غوسه وويل: هيڅ نه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي بيا وویل: وایم خو څه وسوه دا د واده په خبره غوسه سوې نو ته واده نکوي؟

مسکان تر څو شیبو وروسته وویل: زه ستا سره نور خبري نکوم،

علي وویل: اځه سمده بخښنه غواړم بیا داسي خبري نکوم چي ستا طبعیت په خراب سي که اوس هم خبري نکوي نو ستاسو د کور هغې ارواح ته وایم چي راسي او ودي خوري،

مسکان وویل: زه د ارواح او بلاوو څخه نه بیریږم،

علي وویل: هو نو یوه بلا د بلي بلا څخه رښتیا هم نه بیریږي،

علي موسکی سو خو مسکان ډیره په غوسه سوه بیا علي وویل: بخښنه غواړم ټوکې مي کولې،

علي کمپیوټر بند کی بیا یي مسکان ته وویل: که ته نه بیدیږي نو راسه یو کیسه درته وکم زه خبر سوی یم چي ستا د کیسو اوریدلو سره ډیره مینه ده که څنګه؟

مسکان لا هم غوسه وه خو بیا یي وویل: ښه شروع یي که،

علي وویل: انو ورته غوږ سه.....،

علي په کیسې ویلو شروع وکړه کله چي کیسه اوږده سول نو د مسکان سترګې له خوبه ډکې سوې یوي او بلي خواته به ځنګیدل اخیر کي خوب باندي غالبه سو او کرار کرار یي سر د علي پر خوا کږیدی دا وو چي سر یي د علي اوږې ته ورسیدی او هلته بیده سول علي د مسکان ددي حالت په لیدو موسکی سو بیا یي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلي سترګې د مسکان د مخ په ښکلا کي ښخې کړي تر څو شیبو وروسته یي د مسکان څخه مخ واړوی او د آسمان طرف ته یي وکتل او تر سترګو یي اوښکې روانې سوې، تر څو ساعتو وروسته د سهار د مرغانو اوازونه خپاره سول په دي سره د مسکان سترګې خلاصې سوې خو چي ویکتل چي د علي پر اوږه پرته ده نو ژر یي سر پورته کی او علي ته یي په حیرانتیا وویل: علي ایا ته زما په خاطر ټوله شپه دلته ناست وې؟

علي وویل: اوس مي نو څه کړی وای خپه کړې مي وې سزا خو به مي لیدل،

مسکان وویل: علي زه ډیره بخښنه غواړم باور وکه چي هیڅ په ځان پوهه نسوم چي څنګه بیده سوم او ستا پر اوږه مي سر کښیښوی،

علي وویل: نه نه تا خو ماته سزا راکول د تیر ماښام په توندو خبرو،

مسکان موسکۍ سوه بیا یي وویل: داسي نه ده علي زه ستاسو په خبرو نه یم خپه سوې،

علي وویل: ډیر ښه چي نه یي خپه سوې دا راته ووایه چي اوس دي صیحت څنګه دی؟

مسکان وویل:اوس ډیره ښه یم،

علي وویل: د خدای ﷻ مهرباني ده راځه زه به دي تر اطاقه ورسوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي خپل لاس مسکان ته ونیوی تر څو مسکان یي لاس ونیسي او ولاړه سي کله چي مسکان د علي لاس ونیوی نو څو شیبې ډیره حیرانه وه او د علي لاس ورته ډیر اشنا معلوم سو،

علي وویل: څه وسول؟

مسکان تر څو شیبو وروسته وویل: هیڅ نه،

وروسته مسکان د علي سره روانه سول مسکان خپل اطاق ته ولاړل او علي خپل اطاق ته ولاړی کله چي د سهار د ناشتې وخت سو نو خدمتګار سلطان د علي د اطاق دروازه ور وټکول او ویویل: علي صاحب خان صاحب وایي چي ناشتې ته راسه،

علي وویل: سمده ته درځه زه پسي درځم،

تر څو شیبو وروسته علي د ناشتې و میز ته راغلی تر روغبړ وروسته اشرف خان وویل: علي مسکان راته وویل چي ته د کمپنۍ د کارو په خاطر ټوله شپه ویښ وې،

علي وویل: څه مهم پلانونه وه خان صاحب چي باید ژر مي سرته رسولي وای،

اشرف خان وویل: علي ماته کمپنۍ ستا تر صیحت نه ده مهمه که مي بیا د کمپنۍ په کارو کي د شپې تر ناوخته ویښ ولیدلي نو ډیر به درڅخه خپه سم،،

علي وویل: نه خان صاحب د تیري شپې کار یي یو څه زیات وو نو ځکه ورته ویښ وم نور یي زیات کار نه دی پاته هغه د ورځې ان شاءالله سرته رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان وویل: په کومه کمپنۍ کې چې مشر په خپل دفتر کې حاضر نه وي د هغې کمپنۍ کارونه او پرمختګ تر ډېره حده سُست او کمزوري وي خو په هره کمپنۍ کې چې ستا په رکم کارکونکی وي نو په هغه کمپنۍ کې د مشر حضور یا نه حضور هیڅ فرق نکوي او نه هم پر کمپنۍ کوم تاثیر اچوي،

علي وویل: نه نه خان صاحب زه خو صرف خپل مسؤلیت ادا کوم تر نورو زیات کار ما هم نه دی کړی،

اشرف خان وویل: علي د کومي ورځي چي ته زما کمپنۍ ته راغلی یي نو زما کمپنۍ یو مخ پر ګټه رواني دي،

نیرجلاء وویل: نو چي دومره زیاته ګټه یي در رسولي ده معاش هم یو څه زیات ورکوي که نه؟

اشرف خان موسکی سو بیا یي وویل: هغسې خو چي علي ووایي ټوله تر قربان دي معاش خو چي هر څومره زیات وي بیا هم لږ وي زه خو علي ته په هره ګټه کي نیمایي برخه ورکوم خو علي سرزورې کوي او هیڅ نه غواړي،

نیرجلاء علي ته وویل: ولي علي آیا ته پیسو ته ضرورت نلري ته به هم سبا خپل ژوند جوړوې ښځه او کوچنیان به دي وي ته که څه ته ضرورت نلري هغوی خو بیا ضروریات لري نو،

علي وویل: ستاسو خبره صحي ده خاله خو اوس وخت کي کمپنۍ کار او پیسو ته ضرورت لري زما کوچنیان او ښځه به څو کاله وروسته راځي او پیسو ته به یي ضرورت پیدا کیږي خو د کمپنۍ پیسو ته اوس اړتیا ده که یي همداسي پریږدو اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي په لږو پيسو جوړيږي او پرمختګ کوي ځو کاله وروسته به پنځه چنده زياتي پيسې په جوړيدو وغواړي،

اشرف خان وويل: آفرين علي که څه هم په عمر کم يي خو خبري او تجريبې د ډير پوخ عمره او پوهو خلکو کوې کمپنيو ولا په داسي ځوانانو پسي په آسمان کي ګوري خو ماته خدای پر مځکه راکی،

اشرف خان او علي تر څه خبرو وروسته دفتر ته ولاړل او هلته يي پر ځو نوي موضوعاتو د کارکونکو سره خبري وکړي اشرف خان پوهيدی چي علي دده کمپنۍ ته ډير پرمختګ ورکولای سي نو ځکه يي هره مشوره د علي سره کول او د کمپنۍ ټولي چاري يي علي ته وسپارلې علي به د کمپنۍ د کارو تر څنګ د کليوالو سره هم هر اړخيزي مرستې او کمکونه کول د کلي پر خلکو علي ډير ګران وو او ډيري دعاوي به يي ورته کولي علي د اشرف خان په کمپنۍ کي تر ځو مياشتو سختو کارو وروسته يو ورځ د اشرف خان مختته ته د کمپنۍ ټول مهم اسناد کښيښول او اشرف خان ته يي په کمپيوټر کي د کمپنۍ د پرمختګ د ګراف د اينبولو سره وويل: دا دی خان صاحب ستاسو کمپنۍ اوس په داسي مقام کي ده چي تر کلونو کلونو پوري به هيڅ تاوان ونه ويني او په دي کلونو کي به خاص په ګټه کي روانې وي ځوک به يي سيال نسي پيدا،

کله چي د مسکان کيسه تر دي ځايه را ورسيدل نو د مسکان اواز د ژړا پځير سو او بيا يي وويل: کاش چي د کمپنۍ کارونو کلونه کلونه نور هم وخت نيولی وای،

(c) ketabton.com: The Digital Library



روحیلۍ وویل: ولې؟ چې د کمپنۍ کارونه خلاص سول نو بیا څه وسول؟

مسکان وویل: همدا زموږ د جدایۍ سبب سو ځکه د هغه هدف یوازې زموږ او د نورو خلکو سره کمک کول وه،

روحیلۍ وویل: تاسو څنګه جدا سواست ایا تا د هغه سره مینه کول؟

مسکان وویل: هو ما د علي سره ډېره مینه کول،

روحیلۍ وویل: آیا علي هم ستا سره مینه کول؟

مسکان وویل: کیدای سي،

روحیلۍ وویل: کیدای سي بیا څنګه؟ آیا هغه تاته یا تا و هغه ته د مینې اظهار نه دی کړی؟

مسکان بیا په کیسې شروع وکړه او ویویل: کله چې علي او پلار مي د کمپنۍ د کارو څخه فارغه سول نو تر څو ورځو وروسته مي والدین سره کښینستل پلار مي مور ته وویل: ښځې فکر کوم د مسکان په زړه کي د علي د پاره مینه پیدا سویده خو علي فکر نکوم چې د مسکان سره د مینې پلان دي ولري څه کوو ایا د علي سره دا خبره شریکوو که څنګه؟

نیرجلاء وویل: نه پوهیږم خو شاید د علي په زړه کي هم مسکان ځای ولري هغه به په دي خاطر مسکان ته یا موږ ته نسي ویلای چې داسي نه موږ یي بده وګڼو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان وویل: شاید همداسي خبره وي نو راسه نور به وخت د لاسه نه ورکوو لومړی به خبره د مسکان لور سره شریکه کو چي آیا مور ورته ووایو علي ته که ته پخپله ورته وایي،

نیرجلاء وویل: صحي دی نو راځه چي ورته ووایو،

نیرجلاء او اشرف خان دواړه د مسکان اطاق ته ورغلل اشرف خان مسکان ته وویل: مسکان چي یو پوښتنه درڅخه وکم صحي جواب یي راکوې؟

مسکان وویل: هو بابا ولي نه،

اشرف خان وویل: آیا ته د علي سره مینه کوې او غواړي چي واده ور سره وکي؟

مسکان ددي خبري په اوریدو موسکی سوه تر څو شیبو وروسته یي وویل: هو بابا،

اشرف خان وویل: آیا تا او علي ددي په اړه خبري کړیدي؟

مسکان وویل: نه بابا او علي داسي نه معلومیږي چي زما سره دي مینه ولري،

اشرف خان وویل: مور دي ویل شاید هغه په دي خاطر تاته یا مور ته نه وایي چي داسي نه موږ یي بده وګڼو زموږ نیت دی چي نن موږ یا ته خپله ورته ووایي زه وایم تر موږ ته ښه یي چي خپله ورته ووایي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکان وویل: سمده بابا اوس ناوخته دی سهار به ورته ووایم اوس چي علي راسي شاید ستړی وي ښه دی چي استراحت وکي بیا به پر کراره ورته ووایم سبا ته،

اشرف خان وویل: سمده لورې خو سباته حتماً ورته ووایه علي ډیر ښه هلک دی داسي هلک به بیا ته هیڅکله نکي پیدا،

مسکان وویل: بلکل بابا علي ښه هلک دی هغه به تل ما خوشحاله وساتي،

تر څه نور بحث وروسته نیرجلاء او اشرف خان خپل اطاق ته ولاړل او بیده سول خو مسکان د علي په انتظار وه خو علي تر ډیره وخته نه راغلی څو شیبې وروسته د ماڼۍ دروازه خلاصه سول کله چي مسکان ورته وکتل نو سلطان وو، مسکان دباندي ووتل او د سلطان څخه یي پوښتنه وکړه: سلطانه مازدیګر تا او علي یو ځای سره ولاړاست اوه؟

سلطان وویل: هو اغلې،

مسکان وویل: نو علي څه سو؟

سلطان وویل: په دا څو ورځو کي د باران اتکل سویدی علي د کلیوالو سره په ویالو جوړولو اخته وو ماته یي ویل چي ته ولاړ سه زه بیا ناوخته درځم کلا ته،

مسکان وویل: ته دا ستا ځراغ راکه ماته،

سلطان وویل: څه کوې اغلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکان وویل: زه هم د کلیوالو سره مرسته کوم اخیر زما هم کلیوال دي،

سلطان وویل: اغلې شپه ده زه هم در سره ځم،

مسکان وویل: نه نه ته ورسه استراحت وکه زه یوازې ورځم،

سلطان ځراغ ورکی او مسکان د نارنج کلا څخه ووتل مسکان غوښتل علي ته ځان ور نیږدي کي او د هغه سره د باندار موقع پیدا کي او علي ته د مینې احساس ورکي نو ځکه یوازې او په شپه په علي پسي ورغلل، مسکان تر څه مزل وروسته علي او کلیوالو ته ور نیږدي سول، علي د کلیوالو سره په کار مصروفه وو او کلیوالو ته یي د مځکو او ویالو پلانونه ور جوړول چي سترګي یي د مسکان پر ځراغ وبریښیدلي کله چي یي ورته وکتل نو ویلیدل چي مسکان ده، علي کلیوالو ته د کار کولو وویل او خپله د مسکان پر خوا ور روان سو کله چي دواړه سره مخ سول نو علي وویل: دلته څه کوې په دا شپه؟

مسکان وویل: ته څه کوې؟

علي په غوسه وویل: ما ستا څخه پوښتنه وکړه،

مسکان وویل: په غوسه کیږي ولې؟

علي وویل: نو دا وخت دی چي ته دباندي راوځي دا که په تا یو څه سوې وای،

مسکان وویل: ته خو یي نو تا به ژغورلې وای،

علي وویل: مسکان دا وخت د ټوکو نه دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکان وویل: پر لارې چې را روانه وم نو څو ډبرې مې پلاس کې نیولې وې،

علي موسکی سو او بیا یې وویل: لیونۍ!! فکر کوم دومره زیاته به بیریدلې هم که هر څوک په مخ در رغلی وای بس مړ کوئ به دې،

مسکان په خندا سول او ویویول: هو نو،

بیا علي وویل: زما سره راځه لږ کار پاته دی چې دا وکم بیا به ولاړ سو،

مسکان وویل: سمده علي،

علي بیا د کلیوالو سره په کارو مصروفه سو او مسکان یو اړخ ته د نورو ښځو سره کښینستل خو فکر یې ټوله په علي کې وو مسکان علي ته کتل او د هغه په لیدو به ډیره خوشحاله کیدل او موسکۍ کیدل به علي به هم کله کله مسکان ته کتل او موسکی کیدی به تر څو شیبو وروسته عالي د کلیوالو څخه رخصت واخیستی او د مسکان پر طرف ور روان سو کله چې مسکان ته ور ورسیدی نو هغې ته یې وویل: اغلې مسکان شهزادګۍ ځو؟

موسکان موسکۍ سوه بیا یې د کلیوالې ښځو څخه رخصت واخیستی او د علي سره روانه سول تر څه تګ وروسته علي مسکان ته وویل: مسکان تابه تر کوره ورسوم زه یو میلمستیا ته خبر یم د ملګرو باندار دی هلته ځم هغوی به ماته په تمه یې،

مسکان وویل: زه هم ستا سره ځم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي وويل: يا ته زما سره نسي تللای ستا او د هغو ډيره سره ليري ده،

مسکان وويل: ولي هغه پيريان دي که ارواحونه چي زما ور سره ليري ده،

علي وويل: مسکان هغه ځای ليري هم دی او هلته به ستا هيڅ طبعيت نه وي سم،

مسکان وويل: علي ته پوهيږي چي زه کله ضد ونيسم بيا مي هيڅوک نسي ځني اړولای ما درته وويل چي ځم در سره نو ځم،

علي څو شيبې مسکان ته کتل او بيا يي وويل: سمده خو په يوه شرط،

مسکان وويل: کم شرط ښه وايه زما قبول دی،

علي وويل: وروسته يي درته وايم،

څه ليري د يو کليوال موټر را روان وو علي د دريدو ورته وويل کله چي هغه ودريدی نو د عاقِلې خاوند پهلوان وو چي کورته روان وو تر روغبړ وروسته علي ورته وويل: پهلوانه ستا موټر مي داسي د دوو درو ساعتو لپاره پکار دی،

د عاقِلې خاوند د موټره راکښته سو او علي ته يي وويل: دا دی علي وروره تر هره وخته چي يي بيايي ستا په خدمت کي دی،

علي د عاقِلې د خاوند څخه مننه وکړه او بيا يي مسکان ته وويل: راځه کښينه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکان په موټر کې کښېنستل او روان سول مسکان علي ته وویل: خو د بابا موټران په کور کې ولاړ وه په هغو کی به مو یو را روان کړی وای،

علي وویل: اوس شپه ده د موټر په ږغ به د کورنی ټول غړي بدخابه سوی وای او ستا مور او پلار هم نو بیابه یي زما سره هم نه وای پری ایښي چي تللې وای،

مسکان وویل: دا خو ولا ښه فکر دی،

تر څو شیبو وروسته علي موټر ودروی او مسکان ته یي وویل: شرط اوس درته وایم،

مسکان وویل: مهرباني،

علي وویل: مخ دي وګرځوه،

مسکان خپل مخ وګرځوی علي یو ټوکر د مسکان پر سترګو ور وتړی، مسکان حیرانه سول ویویل: علي دا څه کوې؟

علي وویل: پوښتنه نه تا ویلي وه چي شرط زما قبول دی اوس تر هغه وخته سترګو ته لاس مه ور وړه او مه یي خلاصوه تر څو چي زه درته ونه وایم،

مسکان وویل: سمده خو لږ ژر راته ووایه،

علي وویل: سمده،

تر څه مزل وروسته علي موټر ودروی او مسکان ته یي وویل: ګوره سترګي مه خلاصوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکان وویل: سمده،

علي د موټره کښته سو او د مسکان دروازه يي خلاصه کړل او مسکان يي د موټر څخه راکښته کړل بيا يي روانه کړل مسکان څه ناڅه ږغونه اوريدل وروسته داسي معلومه سوه ورته چي د خلکو باندار او ميلمستيا ته يي راورسيدل کله چي دواړه را ورسيدل نو د ميلمستيا ميلمانه ټول چپ سول او حيران حيران يي علي او مسکان ته کتل د مسکان سترګي لا هم پټې وي بيا علي پر خپلو شونډو ګوته ونيول ملګرو ته يي د چوپ کيدو اشاره وکړه هغوی ټول چوپ سول وروسته علي د مسکان د سترګو څخه ټوکر ليري کی او بيا يي تر لاس ونيول او خپلو ملګرو ته يي ور نيږدي کړل، مسکان ته هغوی څه بل ډول ور معلوم سول په هغوی کي څو ښځې او نور ټول نارينه وه او يو کوچنی هلک ور سره وو چي ډير غمجن او زهير معلوميدی، علي خپلو ملګرو ته وويل: ملګرو دا مسکان ده هغه ما چي يي تاسو ته په اړه ويلي وه او مسکان دا زما ملګري احمد، زبير، شعيب، جلال، عابد، ظاهر، قدوس، اتحاد، اکرم او سهيل دي،

مسکان او د علي ملګرو روغبړ سره وکی د علي ملګري ډير خوشحاله وه تر روغبړ وروسته علي هغه کوچنی چي ډير غمجن وو په خپل غيږ کي راپورته کی او ورته ويويل: اوه زما عباس شهزاده ته بيا ولي داسي خپه يي؟

عباس په زهيرانه اواز وويل: علي کاکا تا زما مور نه راوستل هر واري وعده وکي خو راينولي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي حیران سو او د مسکان خواته یي وکتل بیا یي وویل: هغه زه نسم راوستلای زویه هغه هغه لوړ رب راوستلای سي هر څه د هغه په واک کي دي،

عباس وویل: سمده زه نور هغه ته وایم بیا تاته نه وایم،

علي وویل: سمده خو زما د خوا هم ورته ووایه چي علي کاکا وای ته پر ما ډیر ګران یي،

عباس وویل: سمده علي کاکا،

ټول په میلمستیا او بانډار بیرته مصروفه سول علي مسکان ته وویل: دا کوچنی عباس نومیدی په پنځه کلنۍ کي د موره څخه جلا سو ټکر یي کړی وو د موټر سره،

مسکان وویل: دده مور؟

علي وویل: یا ده کړی وو؟

مسکان وویل: نو مور یي ولي ورڅخه جلا سوه؟

علي څو شیبې چپ وو بیا هغه دوو ښځو مسکان تر لاس ونیول او د ځانو سره یي یو بغلته کښینول یوي وویل: مسکان زه فاطمه یم،

او بلي وویل: مسکان زه عایشه یم،

فاطمې وویل: مسکان ته د علي سره څنګه پیژني؟

مسکان وویل: علي زموږ په کلاء کي اوسیږي،

مسکان وویل: علي ستاسو څه کیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



فاطمې وويل: علي زموږ همسايه دی او دا دلته چي سره راټول سوي يو موږ ټول همسايګان يو،

مسکان وويل: اوه ډېر ښه ستاسو کورونه چيري دي؟

فاطمې وويل: دلي نيږدي دي،

عايشې وويل: مسکان ته علي ورور دلته څنګه راوستلي؟

مسکان وويل: ما او علي د کليوالو سره مصروفه وو بيا علي وويل چي ته کورته ولاړه سه زه ځم د ملګرو ميلمستيا ته ما ورته وويل چي ما هم در سره بوځه خو هغه نه راوستلم بيا ما سرزورې کول اخير علي مجبوره سو رايوستلم،

عايشې وويل: مسکان کله کله راځه ما او فاطمې ډېر ديغت کړيدی موږ تر دي ځای دباندي اجازه نلرو يوازې علي ورور د دباندي تلو اجازه لري،

مسکان وويل: تاسو او دا نور ولي؟

عايشې وويل: هغه......

عايشې خبره کول چې فاطمې وويل: خير دا پريږده مسکان ته دا راته ووايه چي علي ورور خو به پر تا مين سوی نه يي،

په دي خبره درو سرو وخندل بيا مسکان وويل: ستاسو علي ورور خو ډير مغروره دی هغه به په ژوند کي پر هيچا نسي مين،

په دي خبره بيا درو سرو وخندل فاطمې وويل: يا داسي نه ده چي علي ورور مغروره دی هغه صرف هغه کارونو ته فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي چي نورو ته يي ګټه رسيږي علي د ځان لپاره هيڅ نکوي او نه يي هم کولای سي،

مسکان موسکی سوه بيا يي وويل: مينه خو بايد وکي که نه نو همداسي د خلکو په کارو کي به سپين ږيری سی او واده به ونکي،

عايشې وويل: علي ورور ډير ښه هلک دی هغه تل مور پخپلو خبرو خوشحاله ساتي علي زموږ لپاره الله پاک د جنت يو نعمت ګرځولی دی خو هغه زيات وخت دباندي تيروي د خلکو سره په مرستو موږ ته بس يوه ورځ راباسي همدا نن ورځ،

مسکان وويل: د علي کورنۍ چيري ده؟

فاطمې وويل: زموږ د ټولو کورنۍ دلته نه اوسيږي هغوی بس زموږ ديدن ته کله کله راځي د علي مور او ورور هم په اوونۍ کي يو ځلي راځي،

مسکان وويل: تاسو لکه چي محصلين ياست؟

فاطمې وويل: هو بس همداسي يي وبوله،

تر څو ساعتو باندار وروسته علي د مسکان پر طرف را روان سو او مسکان ته يي وويل: اغلې مسکان شپه ناوخته ده ځو نه نور؟

مسکان وويل: د عايشې او فاطمې څخه مي زړه نه غواړي چي ولاړه سم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي وویل: درځه نور که دي مور او پلار راکښینستلي وه نو هغوی به ډېر زیات پریشانه سي چي ته چیري یې نو باید د هغوی تر راکښینستو مخکې ځان ورسوو،

مسکان وویل: سمده،

علي وویل: ته د دوی سره خدای په امانی وکه او زه به د هغه نورو ملګرو سره،

عایشې او فاطمې په زهیرانه لهجه مسکان ته وویل: مسکان کله کله راځه مور. ډېر دیغت کړیدی پام به مو په بله وي در سره،

مسکان ورته وویل: سمده وعده کوم چي حتماً به راځم،

عایشې وویل: مسکان ډیره بخښنه غواړو زمور. سره داسي څه نسته چي تاته یي په تحفه کي درکو که نه میلمه خالي لاس پریښودل مور. ته هیڅ خوند نه راکوي،

مسکان وویل: نه نه ماته ستاسو باندار تر هر ډول تحفې ښه خوند راکی خو ما وبخښی چي تاسو ته مي تحفه نه راوړل ځکه چې علي داسی وخت راته وویل چي شپه وه او کور ته یي پري ایښي هم نه یم،

عایشې او فاطمې وویل: مور. هم ستا سره په باندار ډېر خوشحاله سولو،

څو شیبې وروسته علي بیا راغلی او مسکان ته یي وویل: اغلې مسکان که دي باندار خلاص سوی وي ځو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسکان موسکۍ سوه بیا یي وویل: هو درځه ستا خو ډیر تلوار دی،

مسکان فاطمې او عایشې ته تر غاړې سوه او خدای په امانۍ یي سره واخیستی وروسته علي وویل: مسکان ودریږه،

کله چي مسکان ودریدل نو علي بیا د مسکان پر سترګو ټوکر ور وتړی مسکان وویل: علي دا څه کوې بس ده نور،

علي وویل: مسکان زه موټر ډیر تیز چلوم بیا بیریږي چي داسي ونه کم،

مسکان وویل: آځه سمده چي څنګه ستا خوښه وي اوس نو زه څه درته ووایم،

کله چي مسکان او علي موټر ته پورته سول او د کور پر طرف روان سول نو مسکان وویل: علي باور وکه نن مي د فاطمې او عایشې سره ډیر سات تیر سو کاش یو څه وخت نور هم ور سره پاته سوې وای،

علي وویل: خیر که الله کول نو بیابه ورته راسو بیا ښه ډیر باڼدار ور سره وکه،

د علي او مسکان تر منځ څو شیبې باڼدار روان وو وروسته مسکان ته خوب ورغلی او بیده سول د موټر په ښوریدو سره مسکان د علي پر اوږه ولګیدل او هلته یي سر د علي پر اوږه کښیښوی کله چي علي ورته وکتل نو موسکی سو او د موسکان پر مخ یي لاس تیر کی، تر څو شیبو وروسته کور راورسیدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي خپل لاس د مسکان پر مخ ور کښیښوی او مسکان یي وښورول او ویویل: مسکان؟ مسکان؟

مسکان وویل: ها،

علي وویل: کښینه کور راورسیدی،

مسکان لا هم د خوبه وه د سترګو يي ټوکر ایسته کی او بیا یي پخپلو دواړو لاسو د علي لاس ونیوی او بیا بیده سول علي وویل: مسکان؟ مسکان؟

مسکان بیا سره وښوریدل او ویویل: څه دي؟

علي موسکۍ سو او ویویل: موسکان کور راورسیدی درځه پخپل اطاق کي بیده سه،

مسکان وویل: یا زه دلته بیدیږم،

علي وویل: که دي د کورنۍ غړو په داسي حال کي ولیدلي نو ستا او زما د صیحت لپاره به ښه نه وي،

مسکان موسکۍ سوه او د علي د اوږې څخه یي سر پورته کی او ویویل: ځه بیابه ورته ووایم چي ډیر زیات خوب راباندي غالبه سوی وو،

علي موسکی سو بیا یي وویل: تاته لکه چي تر کټ زما پر اوږه ښه خوب درځي که څنګه چي زما اوږه ووینی بس پر بیده سي،

مسکان موسکۍ سوه بیا یي وویل: زه خو بیده یم په ځان نه یم خبره شاید ته مي خپله خپل پر اوږه زما سر را کښیږدي د موقع څخه استفاده کوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي وويل: ښه ښه اوس دي پر ما تاوان کړه خير که دي بل وار سر زما پر اوږه کښيښنوی نو ليري دي غورځوم،

مسکان وويل: اله ته داسي ظالم يي؟

علي وويل: هو نو هم سر زما پر اوږه کښيږدي او هم وايي چي ته يي خپلي اوږي باندي کښيږدي،

مسکان وويل: اځه سمده زه ملامته يم،

علي وويل: يا يا زه ملامت يم،

مسکان وويل: آځه سمده ته ملامت يي،

مسکان او علي دواړه په خندا سول سره او بيا د موټره راکښته سول علي وويل: زه به د پهلوان موټر ور ولم،

مسکان څو شيبې لاندي کتل بيا يي وويل: علي زه غواړم سبا سهار تاته يو خبره وکم،

علي وويل: سمده تر اوسه سبا سهار ته ډير وخت پاته دی ته ورسه خوب وکه او زه به د پهلوان موټر ورولم،

وروسته دواړو خدای په آمانی سره واخيستی مسکان خپل اطاق ته ولاړل او علي د پهلوان موټر ور وستی،

کله چي سهار سو نو مسکان ډيره په خوشحالۍ راکښينستل ژر ژر يي حمام وکی او ځان يي تيار کی او د ناشتې ميز ته د کورنۍ د نورو غړو سره کښينستل چي علي هم ناست وو تر څو شيبو وروسته علي دباندي ووتی غوښتل يي چي ولاړ سي خو مسکان ور پسي ولاړه سوه مور او پلار يي پوه سول چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکان علي ته د تير ماښام د موضوع په اړه وايي نو ډير خوشحاله سول کله چي مسکان په علي پسي ور ووتل نو علي په پارک کي روان وو چي مسکان د شاه لخوا ږغ ور پسي وکی کله چي علي ودريدی نو مسکان په شرمانه ډول ورته وويل: علي هغه ماښام ما تاته وويل چي زه غواړم تاته سبا سهار يو خبره وکم،

علي وويل: د کليوالو تر منځ څه جنجال دی زه به يو وار هلته ژر ځان ور ورسوم چي راغلم بيابه راته ووايي،

مسکان وويل: سمده،

علي څو شيبي د مسکان سترګو ته کتل مسکان ته داسي ور معلومه سوه چي علي ډير خپه دی بيا يي فکر وکی چي شايد د کليوالو په خاطر خپه وي بيا علي په زهيرانه اواز مسکان ته وويل: مسکان د الله په امان،

مسکان په موسکا ورته وويل: الله دي مل سه علي،

علي مخ د مسکان طرف ته کړی وو او د شا پر طرف روان وو بيا يو دم وګرځيدی او ولاړی،

کله چي مسکان کيسه تر دي ځايه را ورسول نو تر سترګو يي اوښکي روانې سوې روحيلې او د هغې کليوالو ته يي وويل: په هغه ورځ علي ولاړی خو بيا هيڅکله نه راغلی،

ټول ډير حيران سول بيا روحيلې وويل: څه؟ خو ولي؟،

مسکان وويل: ځکه چي هغه نه غوښتل مور ته منفي جواب راکي هغه زموږ سره نسوای پاته کيدلای نو ځکه يي زما د

(c) ketabton.com: The Digital Library



میني جواب هم نسوای راکولای ځکه که هغه موږ ته منفي جواب راکړی وای نو زما او زما د مور او پلار زړونه به مات سوي وای هغه دا نه غوښتل چي زموږ زړونه رامات کي،

روحیلۍ وویل: نو علي ستا مینه ولي نه کړل قبوله آیا هغه ستا سره مینه نکول؟

مسکان وویل: علي زما سره مینه کول ځکه کله چي هغه تلي نو ډیر خپه وو هغه ځکه ماته تر شا بیا ونه کتل ځکه چي نه یي غوښتل خپلي اوښکې په ما وویني هغه زما سره ډیره مینه کول خو هغه مجبوره وو چي داسي وکي،

روحیلۍ وویل: څنګه مجبوره د هغه څه مجبورتیا وه؟

مسکان تر څو شیبو پوري چوپ پاته وه کلیوالو او روحیلۍ ټولو سترګې مسکان ته نیولي وې بیا مسکان وویل: ځکه چي علي انسان نه وو هغه ارواح وه،

په دي سره روحیله او ټول کلیوال ډیر حیران سول او غالمغال جوړ سو او یو د بله یي سره ویل چي دا څه وایي دا څه وایي بیا روحیلۍ وپوښتل: دا څه وایي؟

مسکان وویل: هو علي ارواح وه،

روحیله نور هم حیرانه سول بیا یي وویل: ته څنګه پوه سوې؟

مسکان تر څو شیبو وروسته وویل: کله چي علي ولاړی نو والدین او زه هغه ته په تمه وو چي کله راسي نو زه به د مینې ورته ووایم او والدین به زموږ د واده ورته ووایي موږ ورته په انتظار وو خو ماښام سو او علي نه راغلی ما ټوله شپه هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته کتل خو د علي هیڅ درک نسو معلوم کله چي سهار نو ټول کورنۍ مو ډیره پریشانه وه چي علي څه سو خو بیا هم ورته په انتظار وو چي شاید نن راسي تیره ورځ ممکین یو ځای مصروفه سوی وي خو علي نن هم نه راغلی پلار مي په کمپنۍ کي پوښتنه وکړه خو هغو ویل چي دلته هم دا دوې ورځې کیږي نه دی راغلی موږ علي ته څو ورځې انتظار وکی خو د علي هیڅ درک نسو معلوم کله چي یوه اوونۍ تیره سوه نو پلار مي وویل: داسي نه علي کومه پیښه کړي وي موږ باید د هغه کور ته ورسو خو کور یي هم نه دی رامعلوم،

نیرجلاء وویل: ماته رامعلوم دی کله چي علي په اولو ورځو کي زموږ کره راغلی وو نو ما پوښتنه ځني وکړه چي ستاسو کور چیري دی هغه راته وویل: چي د انجینرۍ د پوهنتون پر سړک دی هلته به یي پوښتنه وکو ان شاءالله پیدا به یي کو،

اشرف خان وویل: درځی نو چي ورسو،

کله چي اشرف خان او کورنۍ یي په علي پسي روانیدل نو په دي وخت کي د اشرف خان په کلاء کلیوال راننوتل او د اشرف خان مختته راغلل بیا یي وویل: خان صاحب موږ خبر سوي یو چي علي نادرکه دی؟

اشرف خان وویل: هو دا دا یوه اوونۍ کیږي چي نه دی راغلی،

کلیوالو کي یو مشر وویل: خان صاحب داسي نه چي سردار خان یو څه په کړي وي که داسي وي موږ د سر په سودا علي د هغه څخه ژغورو علي چي څه زموږ سره کړیدي موږ د هغه ښه هیڅکله نه هیروو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان وویل: نه پوهیږم شاید هغه څه کړي وي،

کله چي اشرف خان دا وویل چي شاید سردار خان څه کړي وي نو په دي وخت کي شاته ږغ سو: یا خان صاحب،

کله چي کلیوالو او اشرف خان ورته وکتل نو ویلیدل چي سردار خان وو کله چي دوي ته رانیږدي سو نو تر سلام وروسته یي وویل: ما د علي سره هیڅ نه دي کړي زه خپله دلته د علي د پوښتني لپاره راغلم چي درک یي معلوم کم علي یوه اونۍ مخکې شاید هغه ورځ وه چي دی بیا نه راغلی دلته په هغه ورځ پر کومو کسانو چي ما خپل کور او مځکې ګرو کړي وې د پیسو د نه ورکړي په سبب هغو موږ په زوره د کوره وایستلو زه ورونه مي او ښځه و زوی مي پر سړک ناست وو چي علي راغلی او راته ویویل: خان صاحب څه پیښه ده؟

ما ورته وویل: علي زویه موږ تباه سوو د سرپناه ځای لا نلرو هغو کسانو چي ما کور او مځکې پر ګرو کړي وي موږ یي د پیسو د نه ورکړي په سبب د کوره وایستلو،

بیا سردار خان وویل: د علي زړه ډیر نرم او ډیر مینه ناک وو کله چي هغه زما مظلومیت او زما د زوی او کورنۍ سخت حالت ولیدی د هغه پر موږ ډیر زړه وسوځیدی بیا یي څو ورقې راکړي او په مسکا یي راته وویل: خان صاحب دا واخله ستا د کور او مځکو قبالې ما غوښتل تاسو سمې لارې ته راسی دا جنګ او دوښمنۍ پرېږدی په مینه ژوند وکی دا دی اوس تاسو سم سوي یاست نو هیله کوم بیا هغه زاړه وخت ته مه ځی او یو حلال کاروبار شروع کی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا سردار خان وویل: علي ماته زما د کور او مځکو قبالې راکړي او بخښنه یي راڅخه وغوښتل زه یي په غیږ کي ونیولم او ولاړی زه په دي خاطر راغلم چي د ښه ژوند لپاره د هغه څخه مننه او د هغه د صیحت پوښتنه وکم خو کله چي ستاسو کلي ته راغلم نو دباندي ټول کلیوال ډیر خوابدي وه ما چي پوښتنه وکړه دوی ویل چي علي نادرکه دی علي زما د زوی پځیر دی باور وکی چي تر زوی هم اوس راباندي ګران دی زه به هغه ته ولي تاوان ور رسوم،

اشرف خان وویل: موږ په علي پسي ډیر پریشانه یو نو ځکه ما او کورنۍ مي غوښتل د علي د درک معلومولو لپاره د هغه کورته ورسو خو تاسو وینم چي تاسو هم په علي پسي ډیر خوابدي یاست نو بیا راځی چي ټول ورسو،

وروسته ټول د علي د درک معلومولو لپاره د هغه د کور په نیت روان سول کله چي ښار او د انجینرۍ پوهنتون ته ورسیدل نو پوښتنه پر پوښتنه یي د علي کور پیدا کی کله چي یي د علي د کور دروازه ور وټکول نو تر څو شیبو وروسته د علي ورور دروازه خلاصه کړل او د کلیوالو او اشرف خان په لیدو حیران سو بیا یي تر روغبړ وروسته وویل: خیریت دی؟

اشرف خان ورته وویل: موږ د علي د پوښتني لپاره راغلي یو،

د علي ورور تر څو شیبو وروسته دوی ته د کور ته ورتلو وویل کله چي ټول کښینستل او چای یي راوړلي، د مسکان سترګي پر یو دیوال ومښتلي چي د علي عکس پر ځړیدی مسکان د هغه په لیدو موسکۍ سوه بیا نو تر روغبړ وروسته اشرف خان وویل: علي دا څو میاشتي کیږي زموږ سره میلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو د هغه په راتلو زموږ ژوند یو بل ډول تغیر وکی موږ په هره برخه کي پرمختګونه وکړل د کلونو کلونو دوښمنۍ مو په دوستۍ بدلي سوې علي نه یوازې زموږ ژوند ته تغیر ورکي ترڅنګ یي د ټولو کلیوالو مرسته هم کول او زموږ د ټولو زړونه یي خپل کړي وه کلیوال د علي سره تر حد زیاته مینه کوي خو دا څو ورځې کیږي علي نادرکه سویدی موږ او ټول کلیوال ډیر پسي پریشانه یو چي علي داسي نابېره څه سو؟

د علي ورور تر څو شیبو وروسته موسکی سو او بیا یي وویل: رښتیا هم زما ورور ډیر خدمتګار ځوان وو او د هر چا سره به یي په ورین تندې کمک کوی د هغه سره ټولو مینه کول هغه پر ټولو ډیر ګران وو؟

اشرف خان حیران سو بیا یي وویل: وو بیا څه معنا؟

د علي ورور سر کښته کی او تر څو شیبو وروسته یي په اوښکو ډکو سترګو وویل: علي دا څو کلونه کیږي چي مړ سوی دی،

په دي سره د ټولو بدنونه په ریږد سول سردار خان په حیرانتیا وویل: څه علي مړ سویدی؟

د علي ورور وویل: هو علي مړ سویدی،

اشرف خان وویل: هغه زموږ په کلاء کي چي اوسیدی نو هغه څوک وو؟

د علي ورور وویل: هغه د علي ارواح ده،

د مسکان او ټولو کلیوالو تر سترګو اوښکې روانې سوې او ټول ډیر ګنګ سول بیا د علي ورور وویل: د علي ارواح نه یوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسو سره کمک کوی بلکي د کمي ورځې راهیسې چي هغه مړ سویدی د هغه ارواح د ډیرو خلکو سره کمک کوي اول سر کي ما نه منل چي د هغه ارواح دي وجود لري خو د ډیرو خلکو تر راتګ وروسته چي د علي په اړه به يي پوښتنې کولي بیا مي ومنل چي د هغه ارواح وجود لري،

تر څه ژړاوو و خبرو وروسته اشرف خان د علي ورور ته په ژړا وویل: د علي قبر چیري دی موږ غواړو د هغه قبر ته ورسو؟

د علي ورور وویل: نن زه زیات مصروف یم سبا د پنځه نۍ او د زیارت ورځ ده سبا به ورسو،

ټولو ور سره ومنل کله چي د علي د کوره کلیوال او مسکان را روان سول نو ټول په فکرو کي غرق وه هر يوه به د علي سره خپل تیر یادونه پیادول ځني ځني کلیوال به د علي په کړونو موسکي سول کله چي مسکان کور ته را ورسیدل نو سیده خپل اطاق ته ولاړل او هلته يي پر کټ ځان وغورځوی او ډیر يي وژړل تر ډیري ژړا وروسته مسکان داسي احساس وکی چي ددي پر سر يو چا لاس ور کښیښنوی په دي سره مسکان د کټه پورته سول او شاوخوا يي وکتل بیا يي په ژړا وویل: علي ته دلي يي؟ زه پوهیږم چي ته دلي يي هیله کوم زما سره خبري وکه علي هیله کوم ما غوښتل ډیر څه درته ووایم بیا مسکان کلیوالو ته وویل: کله چي زما تر سترګو اوښکې روانې سوې نو زما د کوټې دروازه خلاصه سول داسي معلومه سوه چي علي ولاړی ځکه چي هغه زما په سترګو کي اوښکې نسوای ځغملای او پوهیږم چي هغه به د مجبوریته زما سره نسوای

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدلای یا په دي خاطر چي ما به پر هغه ډیر تینګار کړی وای چي پاته سوی وای علي ولاړی او بیا موږ ونه لیدی،

سبا ته مسکان والدین یي او نوره کورنۍ یي د علي د ورور سره د هدیرو پر طرف روان سول کله چي د علي قبر ته ور ورسیدل نو د ټولو سترګې د قبر د شناختې پر ډبرې ولګیدي چي پر لیکل سوې وه شهید علي......، اشرف خان د علي د قبر تر څنګ کښینستی او بي اختیاره په ژړا سو د علي ورور اشرف خان تر څنګ ونیوی او ورته ویویل: خان صاحب ستا د ژړا په لیدو به علي ډیر زهیر سي مه ژاړه د علي لپاره،

خو د اشرف خان او نورې کورنۍ تر سترګو اوښکې د اوبو په شان بهیدلي د مسکان ژړا د ډیره غمه ورکه وه د بدن حرکت یي د لاسه ورکړی وو او همداسي یي د علي قبر ته کتل کله چي یي د علي خبرې راپیادیدلي نو تر سترګو یي مړې اوښکې روانې سوې دوی تر ډیره د علي قبر ته ناست وه وروسته د علي ورور وویل: خان صاحب نور به ځو نو بیابه بل وخت ورته راسو وریځ سره برابره سوه او نن د شدید باران اټکل هم سویدی،

اشرف خان د علي قبر ښکُل کی او ویویل: پر الله دي سپارم زویه،

وروسته ټول ولاړ سول او روان سول کله چي مسکان د علي د قبر څخه یو قدم مخکې واخیستی نو د یو بل قبر د شناختې پر ډبره یي سترګې ولګیدي مسکان چي په زیر ورته وکتل نو د قبر د خاوند نوم شهیده فاطمه وه او تر څنګ یي بل قبر د شهیدې عایشې په نامه وو، مسکان په دي سره ډیره حیرانه سول او پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای ودریدل کله چي یي شاوخوا وکتل نو یو کوچنی قبر یي ولیدی چي پر لیکلي وه شهید عباس چي د موټر په ټکر کي په شهادت رسیدلی دی ....مسکان نورو قبرو ته هم وکتل د هغوی خاوند هر یو شهید احمد، شهید زبیر، شهید شعیب، شهید جلال، شهید عابد، شهید ظاهر، شهید قدوس، شهید اتحاد، شهید اکرم او شهید سهیل وه د مسکان مخ د حیرانیه تک سور سو او هغه شپه ور پیاد سوه چي علي ورته ویلي وه چي زه د ملګرو باندار ته ځم چي بیا مسکان هم ور سره ولاړل هلته یي فاطمه، عایشه او د علي نور شهیدان سوې ملګري ولیدل مسکان پوه سول چي په هغه شپه علي زه همدې قبریستان ته راوستلې وم او هغه چي ما ور سره لیدلي وه ټول د علي ملګري او ټول روحونه وه بیا مسکان ته د عایشې خبره ور پیاد سول چي ویل یي: مسکان کله کله راځه ما او فاطمې ډیر دیغت کړیدی موږ تر دي ځای دباندي اجازه نلرو یوازې علي وروور د دباندي تلو اجازه لري، بیا مسکان د عایشې د قبر تر څنګ کښینستل او ویویل: حتماً راځم عایشې خور ستاسو سره مي هغه ورځ ډیر سات تیر سو هغه ورځ به زه هیڅ کله هیره نه کم،

بیا مسکان د کوچني عباس قبر ته ورغلل او ورته ویویل: زما کوچنی مونانی عباس جانه زه به ستا مور حتماً پیدا کوم او ورته وایم به چي ستا دیدن ته هره ورځ راسي،

کله چي مسکان د فاطمې عایشې او عباس پر قبرونو ګرځیدل نو د اشرف خان او د نورې کورنۍ پکښي فکر سو کله چي مسکان راغلل نو اشرف خان ورته وویل: لورې د دا نورو قبرو سره دي څه کول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکان ورته وويل: يو شپه علي ماته وويل چي زه د ملګرو ميلمستيا ته ځم ما هغه مجبوره کی چي ما هم در سره بوځې علي زما د سر زورۍ په خاطر زه ميلمستيا ته بوتلم هلته چي زه د کوم ځا سره مخ سوې وم هغوی ټول د علي پخير روحونه وه او د هغوي ټولو قبرونه مي اوس دلته وليدل،

په دي خبره سره ټول حيران سول بيا اشرف خان وويل: څه؟

مسکان وويل: هو بابا ما د هغو ټولو سره باندار وکی په هغه شپه زما د ټولو سره ډير سات تير سو هغوی ډير باادبه بااخلاقه او ښه خلک وه .

اشرف خان او کورنۍ چي يي کله د قبريستان څخه وتل نو په دي وخت کي د اشرف خان مرستيال قريشي راغلی، د هغه په ليدو ټول ډير حيران سول تر روغبړ وروسته اشرف خان قريشي ته وويل: قريشي ته دا دومره وخت چيري وې؟

قريشي وويل: د علي ورور ميلمه وم،

ټول ډير حيران سول بيا اشرف خان وويل: څنګه؟

قريشي وويل: په هغه ورځ چي زه ورک سوم په هغه ورځ ما او علي تر ډيره په دفتر کي وو بيا علي ماته وويل چي ته ولاړ سه زه يو څو شيبې وروسته درځم زه چي کله د دفتر څخه راووتم تر څه سودا وروسته مي غوښتل چي کور ته روان سم چي په دي وخت کي مي علي وليدی چي دلته د قبريستان پر طرف را روان دی زه په هغه پسي سوم چي چيري ځي څو شيبې وروسته علي قبريستان ته راننوتی زه هم پسي رالم خو چي په ټول قبريستان کي وګرځيدم نو هيڅوک مي نکړل پيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ډیر حیران سوم خو چي کله د قبریستان څخه راوتم نو پر یو قبر مي سترګې ولګیدي چي د علي قبر وو زه پوه سوم چي علي انسان نه بلکي روح ده نو ځکه ډیر وبیریدلم او ومي غوښتل چي په تلوار راووځم او تاسو تهووایم خو په دي وخت کي یو چا زه د شا لخوا پر اوږه ونیولم زه د ډیره وحمه بې هوښه سولم خو کله چي پر هوښ راغلم نو په یو ښایسته اطاق کي پروت وم زه حیران سوم چي کتل مي علي په موسکا اطاق ته راننوتی او زما ترڅنګ کښینستی زه ډیر بیریدلم خو بیا علي راته وویل: قریشي وروره مه بیریږه زه تاته هیڅ زیان نه در رسوم،

کله چي زما زړه څه ارامه سو نو علي ته مي وویل: علي ته روح یې؟

علي موسکی سو او راته ویویل: هو قریشي،

ما ورته وویل: نو ته څنګه بیرته دنیا ته راغلی یې،

علي وویل: که څه هم الله د یو چا سره د کمک کولو لپاره هیچا ته اړتیا نلري خو ځني وخت چي الله د یو چا سره کمک کوي نو د یو بل بنده پلاس یې ور سره وکي په دي چي دا کمک کوونکی بنده یي د ثوابو او نیکیو څخه برخمن سي زه د الله سره او الله زما سره ډیره مینه لري نو ځکه زه الله د خپلو بنده ګانو سره د کمک لپاره راولیږلم تر څو ما تر مرګ وروسته هم د نیکیو برخمن کي په دي سره زه د خپل رب ډیر ډیر حمد وایم،

قریشي وویل: علي تا زه ولي دلته راوستلم او دا کم ځای دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي موسکی سو بیا یي وویل: ته به یو څو ورځې زموږ میلمه سي همدلته،

بیا زه هم هلته اوسیدلم خو درک نه راته کیدی چي دا کم ځای دی علي زما ډیر خدمت وکی په اخیره ورځ اطاق ته راغلی او ماته یي وویل: قریشي کورنۍ دي ډیره در پسي پریشانه ده ته دي نور کور ته ولاړ سه،

ما ورته وویل: سمده علي وروره،

بیا علي راغلی او زه یي په غیږ کي ونیولم او تر سترګو یي اوښکي راغلي او راته ویویل: قریشي زما به ډیر یادیږی ټوله،

ما ورته وویل: علي وروره ته زموږ سره نسي پاته کیدای؟

علي راته په ژړغوني اواز وویل: یا قریشي وروره کاش چي کولای می سوای،

بیا علي یو ټوکر په لاس کي راته ونیوی او راته ویویل: قریشي وروره؟

بیا زه ور نیږدي سوم او علي زما سترګي راپټې کړي تر څو شیبو وروسته یي پر یو چوکۍ کښینولم ډیر وخت هلته همداسي پټې سترګې ناست وم خو کله چي مي سترګي خلاصې کړي نو په دفتر کي وم،

کله چي مسکان کیسه خلاصه کړل نو د ټولو د سترګو څخه اوښکي روانې وې او د علي په فریاد کي یي ژړله ...... پو هیږی پر هغه لاره تیریدل، د هغو خوږو خوږل، د هغو شیانو سره مخ کیدل چي د یو چا یادونه ور سره تړلې وي تر مرګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم سخت حالت پر چا راولي ځني حقيقتونه د خوب په ډول راباندي تير سي کله چي يي د لاسه ورکو نو داسي فکر کوو چي دا خوب وو که څه هم خوب يي بولو خو بيا مو هم زوروې او ژوند مو تريخوي کله چي به هر سهار راکښينستم نو زړه به مي په دي خوشحاله وو چي نن بيا ستا سره مخ کيږم کله چي به در سره مخ سوم نو هغه ورځ به د نړۍ تر ټولو خوشحالترينه شخص زه وم او په کمه ورځ چي به مي ونه ليدي هغه ورځ به ډيره سخته پر ما تيريدل خو بيا به مي زړه ته ډاډ ورکوی چي خير دی يو ورځ ده تيره به سي چي زر ډاډونه به مي زړه ته ورکړل نو بيا به مي لږ څه زړه پر ارامه سو نو ته فکر وکه چي زه دي د تل لپاره پريښولم نو زما پر زړه او روح به څه تيريږي پوهيږي ژوندی جسد پاته سوی يم د ژوند هره خوشحالي مي ستا سره تړلې وه هره ورځ به مي ستا سره د ښه ژوند کولو نوي نوي خوبونه ليدل د ځان سره به مي د ليوني پخير خبري کولي چي ها په دا شي به ته خوشحاله کيږي په هغه شي به خوشحاله کيږي پوهيږي يوازې مي ستا د خوشحالۍ لپاره هر څه ياداښتول د ځان د خوشحالۍ لپاره مي هيڅ نه دي پلان کړي او يا ياداښت کړي يوازې ستا فکر راسره وو خو تا زما ټول خوبونه او ارمانونه چي ستا سره تړلې وه د خاورو سره را خاورې کړل اوس هره ورځ په دي فکر کي يم چي څه ډول ځان ددي ژونده خلاص کم په دي فکر يم چي کله به مرګ راته راسي او کله به زه په خندا ورته ښه راغلاست ووايم د ژوند کولو لپاره الله ﷻ هر چاته د ژوند کولو لامل ورکړی وی زما د ژوند کولو لامل ته وې څومره په اسانۍ دې وويل چي نور مي هيره که ته نه پوهيږي چي ته ماته د ساه اخيستلو حيثيت لري کله چي ساه هيره کو نو ژوند د لاسه ورکوو او ته ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي چي ژوند هير كه يعني نور له دنيا ولاړ سه، د خپل زړه ځخه زيات نفرط كوم چي تر دومره زياتو غمو راكولو سره سره بيا هم تا يادوي او بي حده مينه در سره كوي، مرګ ستا تر جدايۍ ډير راته اسانه وو په مرګ كي خو صرف روح له تنه وځي خو ستا په جدايۍ كي مي په بدن كي روح سوځي، كله چي به مي وليدلي او تا چي به راته وخندل نو د زړه ځخه به ټول غمونه ليري سول او د ګل د غوټۍ پڅير به وغوړيدم خو كله چي به راڅخه خپه سولي نو د خزان د پاڼو پڅير به رژيدم او پر مځكه به له غمه غورځيـــدم، كه اول پوهيداى چي ستا جدايي دومره سخته او ستا هيرول ناممكينه دي نو ما به هيڅكله ستا سره مينه او خپلوي نه واى جوړه كړي، زياتره وايي چي دا دومره غمونه ځنګه ځغمي يوه اوښكه دي هم له ستركو نه ده بهيدلي؟ ما ورته وويل چي ژاړي خو هغه څوك چي يو غم يې ليدلى وي زه خو د ډيره وخته د يار د غمو سره ژوند كوم د يار غم او جدايۍ ته د نړۍ نور غمونه هيڅ هم نه دي اوس ډير لوى لوى غمونه راته هيڅ هم نه ښكاري، مرګ هغه وخت راځي چي روح او ساه دي بي وفايي در سره وكي نه پوهيږم چې زه ځنګه تر اوسه ژوندى ځني پاته يم خو په هر حال زه دي اوس هم يادوم زما اوس هم په زړه كي يي ځكه چي زه رښتينى مين وم يم او يم به نو ځكه تر هر لمانځه وروسته ستا د ښه ژوند دعاوي كوم او ځانته د دنيا ځخه د تللو ځكه تر څه وخته چي ژوندى يم تابه هيره نه كم او تر هغه وخته چي تا هيره نه كم تر هغه وخته به پر كراره او خوشحاله نسم زما ياديږي كه كيداى سي نو بيرته راسه.

پاى

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال نور کتابونه

- ښځه په اسلام او غرب کې
- کوډې په اسلام کې
- نفلي لمونځونه
- حیثیت ناول
- کندهار اتل ناول
- عاشقي ناول
- نارنج کلاء ناول (اوله برخه)
- زموږ نیمګړې مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال په اړه



لیکوال صاحب نیک محمد بارک د محمد عیسٰی زوی او د موسٰی جان لمسی دی چې د نن څخه ۲۲ کاله مخکې یې د کندهار په ولایت کې دې دنیا ته سترګې روښې کړې، بارک صاحب دینې زده کړې د ۵ کلنۍ څخه د خپل کلي په یو دینې مدرسه کې راپیل کړې چې د قرانکریم په قاریتوب کې یې په لنډ وخت کې لنګوټه وتړل او تر څنګ یې په علم حدیث او علم فقه کې څه ناڅه زده کړې وکړې او عصري لومړنۍ زده کړې یې په ملالۍ عالي لیسه کې شروع او په میرویس نیکه عالې لیسه کې یې پای ته ورسولې او د کانکور په امتحان کې د کندهار عمومې دولتې پوهنتون د انجینرۍ پوهنځۍ ته کامیاب سو چې تر څه وخت وروسته یې د یو لړ مشکلاتو په سبب نوموړې پوهنځۍ پریښول او په یو شخصې انستیتوت کې یې د نرسینګ په څانګه کې زده کړې راپیل کړې چې د نوموړي رشتې څخه په ۲۰۲۱ کال د سپټمبر په میاشت کې فارغه سو، بارک صاحب اوس مهال ۲۲ کلن او مجرد دی د خوښې وړ میوه یې کیله د خوښې خواړه یې وریجې د خوښې وړ لوبه یې خپله وظیفه او د کار ترڅنګ یې د موټر او موټرسیکل مسابقه، مینه یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې مور او وطن سره عادتونه يې ژر غوسه کېدونکی او بيرته ژر پخلا کېدونکی دی د بارک صاحب د لا برياوو په هيله.

په درنښت

صابير احمد شينواری

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**